که غواړئ د سولې او پخلاینې دړه
بېرته اوسي، اوربند ټینګ کړئ

# اوربند

شماره دوازدهم، ۱۵/ قوس/ ۱۳۹۷

# ORBAND

CEASEFIRE BIWEEKLY

12th, Issue, December 2018

## د هېواد طبيعي زېرمو ته اندېښنه

د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز په يوه راپور کې ليکلي دي:
«امريکا يو جيولوژېکي ټيم، چې د افغانستان د کانونو په اړه يې څېړنه کوله، له اوږدې مودې وروسته دې پايلې ته ورسېد، چې د افغانستان په ۳۰ سلنه خاوره کې د درې ټريليونه ډالرو په ارزښت کانونه دي چې اوسپنه، مس، ليتيم، يورانيم، سره زر او د ډېرو سکاره پکې شامل دي».
«...د امريکا د ناسا فضايي مرکز د نويو څېړنو له مخې، په دغه هېواد کې د درې ټريليونه ډالرو په ارزښت بېلابېل کاني توکي شته خو نورې منابع د افغانستان د کاني توکو ارزښت او کچه تر دې څو ځله زياته ښيي».
تر اوسه په ټول هېواد کې تر ځمکې لاندې طبيعي زېرمو ۱۴۰۰ ساحې پېژندل شوېدي...

### پدې ګڼه کې...

- د دولس ګرامو مغزو په کړلېچونو کې د ننګيال د «مغزو» تول
- په جلال آباد کې د پاکستان دوه کونسلګرۍ
- ځانمرګي ته سرخلاصی ليک
- د کم عمره ودونو بدې پايلې
- د ساينس د حکمت فلسفه
- د ژوند وړې لارښوونې
- هېندارې ته مخامخ
- نه به وئ خبر...؟!
- ځوان زخمي پاچا
- د ځان شيطان
- نهال شکسته
- فکرمنه رايه

**په نوره نړۍ کې چې سهار ټاکنې پيل شي، تر مازيګره ولس د رای اچونې مرکزو ته ځي او ماښام يې رنې پايلې له رسنيو خپرېږي او خلک د خپلو پلويانو په برې مېلې او اتڼونه کوي... خو...!**




ioglobal

Internet Services Through Fiber Optic
Wireless Communication Solutions
Wired and Wireless Backbone Solutions
Data Center Engineering and Design
IT Infrastructure Solutions
Security Solutions
Storage Solutions
High-Availability Solutions
Software Solutions and Software Systems
Web-based Information Solutions

House No. 1151, Mayors Street on Sherpur Main Road, Kabul | Afghanistan
+93 (0) 20 22 131 21 - 4 | info@io--global.com | www.io--global.com | io-global

ORZALA NATURALS اورځلا طبیعی
افغانی، طبیعی، ګیاهی



Between Street 1 & 2, Taimani Main Road, Kabul, Afghanistan
Kart-e-4, Next to Allama Higher Education Institute | 0799143113
تايمني سابقه، د لومړي او دويم سړک تر منځ، کابل، افغانستان
کارته چهار، د حوزې سړک، د علامه لوړو زده کړو موسسې تر څنګ




ايم تي اين مخابراتي شرکت ته مخامخ کوڅه، شهر نو- کابل/ 0202214172

چاپځی: اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۳۴۹۲۹۸

# ملنګ راغی، ملنګ ومړ، خو پاچا و!

**عبدالمعید هاشمي**



عمر دراز مروت د پښتو شعر د جلا سبک، قريحې او ساده روان طرز خاوند و.
کابو دوه لسيزې وړاندې مې دغه نالوستی، شډل او کليوال ملګری د پېښور ښار په دانش کتابتون کې په لومړي ځل وليد، بيا نو موږ له کډوالۍ را وګرځېدو او دغه دويم ملنګ جان نو د ګلدادا او لوی کور سَوې- لَوې مينې دومره نا ارامه کړ چې لکه کب يې بې اوبو «دانش او هېواده» ژوند ناشونی و.
مروت مينه، عاطفه، عاجزي، ملنګي، انانيت، خودي او د غزل خواږه درلودل، ځکه نو دومره ګران و چې سنځل ګل او نښتر مشاعرې هم بې له ده نه تېرېدې.
سنګيني، چوپتيا، ارتې تنۍ، ول ول پګړۍ، خلاص لستوڼي او ساده جامې مې يې د وروستي ځل لپاره د دانش فرهنګي مرکز- لغمان د «يو مېلمه، يو کوربه» غونډه کې وليد په مړو مړو يې را کتل ګونډې دا يې وروستي کتل دي، ګونډې له ژونده ستړی دی، دروغجنه او کاذبه نړۍ خوند نه ورکوي، هر څه ورته پيکه پيکه ښکارېدل، ماښجنو کتلو يې خدای په اماني کوله!

هاى که زه خبره واى چې بيلتون دی...

زه نو څه خبر وم چې د زړونو مروت به نور خپل ځای کرکې او بې مينې تشې ته پرېدي کنه ما به د پېښور کنفرانس منتظمينو ته جيګې، ننواتې او زارۍ کړې وای ګونډې دا زاره چاودې هستي مې په رڼو سترګو ليدلې وای!
زما ساده باده خو له عقل، پوهې، طنز، مزاح خوږلنۍ، کنايو او استعارو پور و ماموره مروته ستا او خپله بېوسي مې ښه ډېره وژړله!
د خولې وروستۍ خبرې دي اوس هم زما په غوږونو کې ملکوتي ازانګې دي چې ما درنه د ژوند وپوښتل تا راته کړل: «الله دې راضي سي د پيترت (فطرت) پر تيلپانه څه چل سه‌وای ښه ده چې ايتا په تيلپانه ورسره وغږېدم او دانش صاب پسې ډېر خپه کيږم!».
زما عمر دراز مروته بې مروته عمر در سره ناځواني وکړه ته دراز وې خو عمر نامرده لنډه در غوڅه کړه!
ته په همدې غربت، بېوسۍ او بېکسۍ کې باهمته، خودکفا او قانع وې. نه مې هېرېږي چې په هر اختر کې به دې تر هر چا وړاندې په ټليفون مبارکي راکوله خو ما نامرده دومره چانس ونه درلود چې د رنځورۍ پوښتنه دې وکړم!
زما نيمګړيه نيمه خوا مروته ورځه ورځه په مخه دې ښه شه ته خو ښه وې يو در سره کند و، يو کچکول چې زموږ به څه حال وي!
رښتيا مروته! ګلدادا دې د وير پر ټغر ناست و اوخورو ورو ملګرو درته د اوښکو په بدرګه د دعا لپې پورته کولې!
ستا د قتل «ډېر سوچونه» خو هېچا نه کول!
خو زېری مې درباندې «د مروت کليات» چاپېږي، بيا که خير و سره خواله کوو.

مادې اوږدې لارې ځارلې
زه دې له لنډو لارو څه خبره وومه

او په پای کې دې د پښتنو يوازنۍ فرهنګي ډېره (دانش خپرندويه ټولنه) اباده وي، چې د پښتو ددې نوميالي دعا او فاتحه يې واخيستله.

















**اوربند ستاسې تجارتي اعلانونه په ور بيه خپروي او تر ډېرو ځايونو يې رسوي**

## دانش خپرندويې ټولنې نوي چاپ کړي کتابونه



**د تر لاسه کولو پتې**
**سالنګ واټ، انحصارات، د پخوانۍ ملي سينما څنګ ته،**
**دانش کتابپلورځی- کابل**
**ډيجيټل:** 0783835153 **مطبعه:** 0700449298
**برېښليکونه:** danishdigital2020@gmail.com | spinsahaar@gmail.com
ميوند جاده، پخته فروشی کوڅه، خليل مارکيت، دانش کتابخانه
احمد شاه بابا مېنه (ارزان قيمت) شهيد داود خان څلور لارې، داود خان او پي ته

مخامخ، بولان مارکيټ، کتابستان
ميرويس ميدان (کوټه سنګي)، مينه يار مارکيټ، استقلال کتابخانه- کابل
کندهار: کروړ کتابخانه او صداقت کتابخانه
ننګرهار: ختيځ خپرندويه ټولنه او مومند خپرندويه ټولنه- جلال آباد
پکتيا: روحاني خپرندويه ټولنه او ما شاء الله کتابخانه- ګرديز
خوست: ژوندون کتابخانه او رڼا کتابخانه
مزار شريف: کتابفروشی حاجی عبدالقيوم



بسم الله الرحمن الرحیم

## سرلیکنه

### جړه مشوره!

ټاکنې په ګرده نړۍ کې د برخلیک ټاکنې بنسټ ګڼلی شي. خلک پکې خپل برخلیک پخپله ټاکي. داسې چاته رایه ورکوي، چې غږ یې تر سرکاره رسوي. ټاکل شوی وکیل له سرکاره ولس ته د ښه ژوند او ډېرو اسانتیاوو غوښتونکی وي...
له بده مرغه زموږ په هېواد کې دا کیسه سرچپه ده، نه ولس د خپل برخلیک د ټاکلو سمه او پخه اراده لري او نه سرکار تر دې دمه د رښو ټاکنو لپاره اړینې لارې چارې سنجولې...
په نوره نړۍ کې چې سهار ټاکنې پیل شي، تر مازیګره ولس د رای اچونې مرکزو ته ځي او ماښام یې رښې پایلې له رسنیو خپرېږي او خلک د خپلو پلویانو په بري مېلې او اټنونه کوي...
ددې ډګر پدې برخه کې هم زموږ کیسه بل ور ده، د یوې ورځې ټاکنې بلې ورځې ته درومي او د سهار پر ځای د رای اچونې بهیر غرمه پیلېږي...
خبره چې د رای شمېرنې او پایلو اعلانونې شي، بیا هم موږ تر ټولو وروسته او له چوکاټه پر وتلې لاره روان یو...
لومړی مو پایلې په میاشتو نه اعلانېږي، بیا چې اعلان شي، هغه لومړنۍ پایلې وي...
بس ستره ستونزه دا ده چې موږ په هېڅ یوه چوکاټ کې د ځان ځایولو وړتیا او اړتیا نه وینو... هر څه مو یا له نورو کاپي دي او یا مو دومره خراب کړي چې سر یې له ټولو ورک او سرګردانه پسې ګرځو...
ددې جړې مشورې د سر پیدا کولو یوازنی حل د ولس پوهېدن او د سرکار په زړه خوږي کې لیدلی شي... ترڅې ولس پاک خلک ونه ټاکي، د جنګسالارانو او نورو غلو لمنه خوشې نکړي، نه به یې غږ تر سرکاره ورسېږي او نه به یې ښه اُستازی ټاکلی وي...
د رښو ټاکنو او د ټاکنو د درست بهیر ټول مسوولیت د سرکار په غاړه دی... سرکار د امنیت، روڼوالي او د ټاکنو اړوند نورو ټولو چارو دنده په غاړه لري...
هیله ده چې ولسمشریزې ټاکنې د ولسي جرګې د ټاکنو په څېر نه وي، د تېروتنو د تکرار مخه پکې ونیول شي او د لا ښه کېدن لپاره یې کوټلي ګامونه واخیستل شي...


# اوربند

پېنځلس ورځنی

رَبِّ اجْعَلْ هَذَا بَـلَداً آمِناً

شمارهٔ دوازدهم، ۱۵/ قوس/ ۱۳۹۷



## نیولیک


ځانمرګي ته سرخلاصی لیک/ ۲
د ژوند وړې لاربښوونې/ ۴
فکرمنه رایه/ ۵
د هېواد طبیعي زېرمو ته اندېښنه/ ٦
د کم عمره ودونو بدې پایلې/ ۸
په جلال آباد کې د پاکستان دوه کونسلګرۍ/ ۱۰
د ځان شیطان/ ۱۱
د دولس ګرامو مغزو په کړلېچونو کې د ننګیال د «مغزو» تول/ ۱۲
هېنداري ته مخامخ/ ۱۳
نهالِ شکسته/ ۱۴
ځوان زخمي پاچا/ ۱۵
د ساینس د حکمت فلسفه/ ۱٦
نه به وئ خبر...؟!/ ۱٦


## اوربند

د تلپاتې سولې لومړی ګام
اوربند؛ د ملي جرګې یواځېنی شرط دی
اوربند؛ د روغې جوړې پیلامه ده
اوربند؛ د جګړې مخنیوی دی
اوربند؛ ملي غوښتنه ده
اوربند؛ د هر افغان غږ دی
اوربند؛ د هرې مور هیله ده
اوربند؛ ملي اړتیا ده
اوربند؛ ټیکاو دی
اوربند؛ د سوکالۍ لوری دی
اوربند؛ د بسیاینې لار ده
اوربند؛ د پرمختګ اساس دی
اوربند؛ ژوند دی
اوربند؛ له مرګ سره مبارزه ده
اوربند؛ د بربادۍ مخنیوی دی
اوربند ټینګ کړئ، له اوربند سره کېنئ، پر اوربند راټول شئ.





امتیاز
افغانستان
چلوونکي
افغانان
خپرندوی
دانش خپرندویه ټولنه

اړیکي
۰۷۸۸۰۴۲۸۲۱ - ۰۷۰۰٦۳۹۳۸۳

برېښنلیک
spinsahaar@gmail.com

بیه
۲۰ ؋



# ځانمرګي ته سرخلاصی لیک

ملا مرجان میرخېل

**ما لس کاله دمخه هم پخپل لیک کې یاده کړې وه، چې زما ملګري ولسمشر او چارواکیو ته پرانیستي لیکونه کاږي، خو زه ستا له نامه سره خپل لیک پیېم، ځکه زه ستا مټو او اراده کې له چارواکیو او سیاستوالو زیات ځواک او ولوله ګورم. زه ستا جذبې ته حیران یم، کله مې هم زړه کې ستا په اړه نفرت نه دی راټوکېدلی، خو ستا له عمل خپله کرکه نشم پټولی، ځکه خو تا سره برالا د خپلې خواخوږۍ اعلان کوم.**

**که نور هر څوک تا ظالم بولي، ماته مظلوم ښکارې، زه درسره د ظالم، مظلوم او معصوم درې واړه اړیکې پالم. دغه درې فکتوره زموږ په هېواد کې د تېلې جګړې د مثلث درې څنډې ګرځېدلي. دلته له څلوېښتو کالو د ظلم، مظلومیت او معصومیت یا په بله خبره د ظالم، مظلوم او معصوم جګړه غځېدلې، د دغه جګړې هر ظالم، مظلوم او هر مظلوم ظالم ختلی. موږ ټول د دغه جګړې بېګناه قربانیان یو، دغه جګړه یوه ورځ سپېڅلې وې، جنګیالي یې قهرمانان وې، بله ورځ پرې د ناولي جنګ ټاپه ولګي، مجاهدین ترهګر شي. ...**

... دا د هرې تېلې او پردې جګړې برخلیک دی، ځکه خو موږ هر یو په دغه جګړه کې ظالم ګرځېدلي یو، مظلوم واقع شوي یو او معصوم راختلي یو.

موږ هغه ملت یو چې څلوېښت کاله مو پر وینو او سرونو د نورو د ګټو بازارونه تاوده دي، سوداګر بدل شي، د پلور او پېر بڼه واوړي، د پلورونکو اخیستونکو په څېرو او بولیو کې توپیر راشي، بیې لوړې ټیټې شي، خو متاع بیا هم زما او یا ستا وینه او سرونه دي.

زه په هماغو لومړیو کې د خپل مخکیني لیک په اړه ستا پر تلوسه خبر شوم، خو ما له خپلې لټۍ کلونه ستا ځواب در نه کړای شو. ته پوهېږې د څنډ یو لامل دا و چې زما هم پخپله خاوره د پردیو پوځونو غوبل پر زړه نشواى اورېدای.

خو زه داډه وم او یم چې پردي کله هم پر دغه خاوره نشي پاتېدای. که نور نه وي کاڼې، کمر به یې وتلو ته اړ کړي.

شورویان هم دغسې رسوا او ذلیل له افغانستان ووتل. ډاکتر نجیب الله یې د وتلو غبرګ پورته کړ. د حیرتان په یو تیجن کانتینر کې ببرک کارمل هم حامد علمي د روسانو د ایستلو له جذبې په غوږ وهلی و.

پردی، پردی دی، هغه که شوروي دی، که امریکا، پاکستان دی، که ایران، سعودي او که...

پردی د هیچا نه دی خپل شوی، لکه روس چې د خلقیانو پرچمیانو خپل پاتې نشو، لکه پاکستان چې د مجاهدینو او مهاجرو خپل ونشوای ختلی.

هغه پاکستان چې افغان مهاجر یې د خدای ج میلمانه ګڼل نن یې په بېرحمۍ او حقارت د شړلو پښې دربوي زما او ستا هېواد د پردو لپاره نه دی. دلته له پردي سره هېڅوک کلی کور شوی نه دی، هېڅ پردی د چا خپل نه دی ختلی.

زموږ ټولو نیت یو، خو له بده بخته په عمل کې توپیر دی.

زه او ته باید په غبرګدلیو سترګو وګورو، د هغو ناکامو تجربو له تکرار چې زموږ دوه نسله یې د اور خوراک کړل راوګرځو. داسې ونه اوسو چې غوړونه ولرو خو وانه ورو، سترګې غړوو، خو حقیقت نشو لیدای، شعور مو وي، خو په ښه او بد سر خلاص نه کړو.

یوازې مرګ، جنګ، وژنه د شر او فساد مخه نشي نیولی، دلته هر جنګ نوی شر او فساد ته زمینه برابره کړې ده.

دا خلک د دین او جهاد په نامه پر موږ جهالت پلوري، د جاهلیت کاروبار یې غځولی. په همدغه تیارو کې یې خپله سوداګري غوړولې، خپل مارکېټونه یې پرانیستي دي، دوی هر وار

زموږ د احساساتو له تپاندو رګونو وینه اخیستې او خپل ځانونه یې لکه ژورې پرې پړسولي دي.

رښتینی او لویه فتحه هغه ده چې له وینو تویولو پرته ترلاسه کړای شي. تدبیر او اور شارت هغه دی چې له مرګونو او ویجاړونو پرته د خپلې آزادۍ جنډې ته د رپولو مخه ومومي.

ویښ ملتونه له وینو تویولو پرته د ازادۍ معرکه ګټلی شي. همدا دزعامتونو د تدبر ازمېښت دی. د دغه ازمېښت برى د ملتونو او قیادتونو دواړو د پایښت او سر لوړۍ ضمانت دی اوبو ته ګوره د خپلې نرمۍ په زور د اور ژبغړانده لمبې وژني. برى او پریکړه یوازې په جنګ او مرګ کې نه ده، هغه غوټه چې په لاس پرانیستل کېږي خولې ته یې ور وړل هوښیاري نه ده.

رحمان بابا وايي:

په نرمۍ لکه اوبه د اور سزا یم

ځان الوزول زړوتیا نه ده، په زړورتیا کې عقل پر ځای وی، شعور واکمن وي، خو غوسه عقل له منځه وړي.

انسان د عزت له لوړ مقام لاندې راغورځوي، د خیر او شر له توپیر یې بې برخې کوي. د ځان او نورو په الوزولو یې اړ باسي. عقل یا له غوسې زایل شي یا له نشې، دواړه تر ټولو دمخه عقل او هوش له منځه وړي.

تا ماته د پېغور ګوته لکه کړې وه چې بهرني پوځونه د خلکو پر کورو ورخېژي، پرودونو، وراوو او جنازو بمونه غورځوي، ښځینه پر سپو داړي.

په خدای که بهرنیو پوځو ته ستا د هېواد کوم اصیل بچي په ښه کتلي وي. له تا هېره ده چې د روسانو له وتلو وروسته هم دلته د جګړې اور ګل نشو. د ډاکتر نجیب الله رژیم له سقوط وروسته چې هېواد کې بهرني عسکر نه وو، له وحشت ډکۍ جګړې غځېدلې وې. تاته یاد دي چې عرب، پنجابي، چیچنایي او نور بهرني ټوپکوال د کابل په واټونو کې له خپلو پک اپو سره له ما او ستا په زیات داډه یوه بله خوا ځغاستل، زما او ستا په لور پخپلو کتو کې یې سپکاوی غشې چلول، موږ ته یې د خپلې مستعمرې په سترګه کتل.

په داسې حال کې چې زما او ستا په کولتور کې چې هر پردی له ټوپک سره په هېواد راختلی یرغلګر پېژندل شوی دی.

ته څه فکر کوې چې دلته د پردیو عسکرو او جنګیالیو له شتون څوک خوښ وو یا خوښ دي؟

ته به یې ونه منې، خو د بهرنیو عسکرو د وتلو زمینه همېشه له دننه برابره شوې ده، له دباندې هر وار د دغه هڅې ګواښنده او مرګونې پایلې راوتلې دي.

دا نشي کېدای چې څوک له باران په پاڅېدو تر ناوه لاندې په کیناستو خوندي واوسي. له یوه پردي د خلاصون لپاره د بل پردي غېږې ته ځان غورځول

د دوو پردیو په شر اوښتل دي.

دا هغه ناکامه تجربه ده چې له تا وړاندې د مجاهدینو غاړې ته لویدلې. ته پوهېږې دغه تجربه څومره مرګونې وختله. د شوروي له تیري د خلاصون په موخه د امریکا پاکستان او سعودي غبر څومره کرکجنه او خطرناکه وګرځېده.

په حقیقت کې ټوله غمیزه له همدغسې ماجرا راټوکېدلې ده.

زه بیا وایم چې پردی پردی دی، موږ باید د پردو لپاره د خپل سینه په نښه نکړو، د کوم پردي عرب پر سر چې ستا نظام له منځه ولاړ او هېواد د اور کندې ته وغورځېد هغه په ټول ژوند کې پخپلو ویډیو پیغامونو او څرګندونو کې ستا او ستا د هېواد او خلکو نوم یاد نه کړ، تا چې په څومره بې توپیرۍ خپل نظام، ولس او هېواد د یوه پردي عرب له سره لوګی کړ، دا کوم بصیرت او هوښیاري ده چې اعادې ته یې ځان له سره د وینو د ویالو په بهولو اړ ګورې؟ د نړۍ په تاریخ کې یو نظام او حکومت په دومره بې توپیرۍ نه دی بایلل شوی، که د یوه بې مروته او نابللي میلمه پر سر دغسې قمار نه وای وهل شوی، په هېواد کې به مرګونو دغسې خیمه نه وای درولې.

خو ستا پام دی چې تا هر وار ځان الوزولی - زیان تا، ستا کورنۍ او هېوادوالو ته اوښتی دی.

ته پوهېږې په معاصر جهان کې هېواد ساتنه یوازې جګړو او مرګو ته نه ده راټوله، د هېواد د دفاع او خدمت نورې لارې هم شته، خو لارې د ژوند یو سورى دی او تا دغه هدف له یوې مخې مرګ ته راټول کړی دی.

څه ښه یې ویلي چې «د خپلواکۍ لومړی ګام له سنګر نه بلکې له ښوونځي څخه پورته کېږي. بشپړې خپلواکۍ ته لاره د ویښتیا او روښانتیا له پړاوونو څخه تېرېږي. یوازې ویښ او روښانه ملتونه بشپړې آزادۍ ته رسیدلی شي.» که نه د آزادۍ جګړه به یې د خپلې غاړې زیندۍ ګرځېدلې وي. د یوې آزادۍ بیه به یې د بلې غلامۍ په بڼه د پښو زولنې ګرځیدلې وي. له عراق امریکایي عسکر القاعده په ټوپک ونشوای ایستلی. د عراق پارلمان یې د ایستلو دړه بېرته کړه. خو داعش بېرته راوبلل او له سره پر عراق ور وختل. د عامه افکارو یو څپه له زرګونو توپونو او ټوپکو زیات زور لري.

ځکه خو یو ځل بیا پر تا غبږ کوم. د ژوند د نغمې تار درته شرنګوم. د ژوند او ژوندي پاتېدو بلنه درکوم. ګوره که د مرګ کوکه چوپ کړای شو. له تا هم غواړم چې په ګډه راسره د ژوند د نغمې په تارونو ګوتې پورې کړې.

راځه په ګډه یوې بلې مقابلې ته ور وګرځو. یوه بله دغره پیل کړو. پر قلم د فتحې معرکه توده کړو. په علم د خپل هېواد او خلکو د برلاسۍ ضمانت پلی کړو. د کتاب قوت او د کمپیوټر ځواک ته ور واوړو. د تمدنونو منطق ته

نوک ونیسو، که زما او ستا برلاسي، عظمت او عزت یې تضمن نکړای شو، بیا ستا خوښه، تا ګټلې ما بایللی. تر ویښته غاړه نرۍ

ته پوهېږې د اشرف المخلوقات په حیث انسان پر ځمکه د الله تعالی خلیفه دی، خو ته یې له دغه مقامه دومره راغورځولی یې چې د متاع په څېر یې د پلور او پېر بازار کې دربانډې د لیلام بولي لګولي. په څو لاسونو ستا د سر او وینو سودا غځېدلې ده؟

لومړی یې له امریکا سره ستا د سر سودا وکړه. بیا یې ستا پر هېواد امریکایي لښکرو ته د ورختو مخه ورکړه، ته یې امریکایانو ته تسلیم کړې. جیلونه یې دربانډې ډک کړل. اوس دربانډې له افغانستان څخه امریکایان باسي، اسلام دربانډې ګټي، جهاد در بانډې کوي، ځکه خو خلک پر دغه کرکجن تصور ځانونه اړ ګوري چې هر وار خارجیان وتلي، امنیت خراب شوی، جګړه لا وحشي شوې، د مرګونو او سرونو سوداګري لا زیاته غوړېدلې ده، د روسانو په وتلو داسې وشول، داسې مه کوه چې د امریکایانو په وتلو خدای مه کړه هغه ترخه او مرګونې تجربه تکرار شي.

راځه زه او ته دا پلمه ورکه کړو، چې که خارجیان ووځي افغانان به یو بل وخوري.

دغه لوبې او اندېښنې پر خلکو یو منفي او خطرناک ذهنیت تپلی. له همدې ځایه ځیني دا فکر کوي چې که بهرنیان وځي ژوند د محتوم مرګ له ګواښ سره مخامخ دی، ځکه خو هغوی هم د بهرنیانو شتون ته غاړه ږدي، چې یو وخت یې د هغوی ایستل خپله ملي او دیني فریضه پېژندله، ته پوهېږې، تاریخ به دغه پړه ستا پر تندي لیکلې وي؟

هغه څه چې د لمر په څېر روښانه دي دا دي چې که تاسې ځانونه نه وای الوزولي. اوس به له مدرسو، ښوونځیو، پوهنتونو فارغ شوی وای، لوړې زده کړې او د ماسټرۍ او ډاکترۍ برۍ لیکونه به درسره و ای. کمپیوټر ته په ناست وای، د خپل هېواد او د خپلې مېنې د آبادۍ خښتې به مو ایښودلې د خپلې کورنۍ د بسیاینې پر منزل به دمه واست.

ته د یوې شېبې لپاره پخپل زړه ګوتې کېږده. که دا پینځلس کاله مو خپلې متې، فکرونه او قلمونه د جګړې، مرګونو او ویجاړیو پر ځای پر بیا رغونه، روغتیا، ښوونه او آبادۍ کې ستومانه کړې وای، د وینو پر ځای مو خولې بهولې وای، دا هېواد به د ځمکې پر سر جنت نه وای ګرځېدلی.

ته جنت غواړې که نه؟ بیا به دې دغه جنت په ژوند له خپلې کورنۍ سره په ګډه موندلی وای.

هغوی چې په جګړو، چاودنو او مرګونو خپل هېواد په دوزخ اړوي د جنت د هوس هیله نشي ریژولی.

جنت نعمت دی، لکه څنګه چې ژوند نعمت دی، د نعمت کفران د الله تعالی

لـه ارادې او فرمـان بغـاوت دی.
جنـت پـه مرگونـو کـې نـه دی ـ د دې پـر ځـای چـې جنـت د ځـان او نـورو پـه الوزولـو کـې ولټـوو راځـه پـه ژوندونـې د جنـت ګټلـو لار خپلـه کـړو.
دا څنګـه کېـدای شي چـې خپـل هېـواد، خـاوره او خلـک پـر اور واړوو او لـه خـدای جنـت وغـواړو؟ جنـت لـه اوره خلاصـون دی، هغـوی چـې پـر ژوندیـو انسـانانو اور پـوري کـوي، جنتـي نعمتونـه نـشي ترلاسـه کـولای.
جنت پـه ژونـد کـې دی، جنـت ژونـد د، پـر ژوندونـې ترلاسـه کېـدای شي، جنـت د ژونـد حقیقـي تصـور او د ابـدي ژونـد تصویـر دی ـ د جنـت لټـون او موندنـه لـه ژونـد سره پیلـي، جنـت پـر ژونـد ګټـل کېـږي، ځکـه خـو ألـله تعالـی خپـل بنـدګان د ژونـد پـر نعمـت نـازولي او د دغـه نعمـت لـه ضایـع کولـو یـې منعـه کـړي دي.
جنـت د ژونـد پـر مـټ ترلاسـه کېـږي، مـرګ د جنـت لار نـشي پـه ګوتـو کـولای.
د رحـمان بابـا پـه خبـر ملنـګ هـم ژونـد او د دنیـا ښـه بللـې، د عقبـا او جنـت توښـه یـې پېژندلـې، ځکـه خـو دنیـا د اخـرت کرونـده ګڼـي ـ څومـره چـې ژونـد غځېـږي دومـره د اخـرت توښـه ورسره برابرېـږي، کرونـده پـه ژونـد او عمـل آبـاده، ښـېرازه او سمسـوره پاتېـدای شي.

ښه ده ښه ده دا دنیا
چې توښه ده د عقبا
په دنیا کې بدي نشته
که بدي نه وي له تـا

پـر مـرګ دغـه کرونـده شـاړه شي، ځـوزان راوټوکـوي، بېدیـا وګرځـي، تـه د خپـل ژونـد پـه لنډولـو ځـان د اخـرت لـه توښـې مـه بـې برخـې کـوه.
اللـه تعالـی خپلـو بندګانـو تـه ژونـد خـوښ کـړی، د ژونـد نعمـت یـې پـرې لورولـی ـ تـه د اللـه تعالـی دغـه خوښـه بابیـزه مـه ګڼـه. قـدسي حدیـث دی چـې اللـه تعالـی بنـدګان خپـل عیـال ګڼـلي ـ فرمایـي: څـوک چـې زمـا لـه عیـال سره ښـه کـوي، زه لـه هغـو سره ښـه کـوم.
هغـوی چـې د اللـه تعالـی عیـال وژنـي څرنګـه د اللـه تعالـی د نعمتـو او جنـت تمـه کـولای شي؟
ژونـد تـر ټولـو سـتر نعمـت دی ـ د نـورو ټولـو نعمتـو دار ومـدار پـر ژونـد پـوري دی. کـه ژونـد نـه وي، نـور نعمتونـه نشـته، لـه ژونـد سره د مـرګ چلنـد د اللـه تعالـی د نعمتونـو ترټولـو غـټ کفـران دی.
کـه څـوک د ژونـد لـه نعمـت مـخ اړوي، پـر نعمـت یـې لـه شـکر سـترګې پټـې کـړې او د اللـه پـر دغـه نعمـت پسـې راواخـلي، لـه دغـه لـوی نعمـت خلـک بـې برخـې کـړي د جنـت څـرک او درک نـشي لګولـی.
هغـوی چـې لـه تـا د جنـت پـه لالـچ کـې د ژونـد نعمـت اخـلي، ځـان تـه د ژونـد ټـول عیشـونه او نعمتونـه خونـدي ګڼـي... هغـوی سـتا ژونـد د خپلـو ګټـو او غوښـتنو قربـاني کـوي، د خپـل واک او ګټـو هـوس سـتا پـه مـرګ خړوبـوي.
اللـه تعالـی خپلـو بندګانـو تـه د ژونـد پـه بـدل کـې د مـرګ پـه بیـه د جنـت نعمـت نـه دی ټاکلـی، بلکـې د دغـه نعمـت ترلاسـه کـول یـې د ژونـد پـه نعمـت کـې نغښـتي دي. پـه أسـلام کـې اصـل ژونـد دی مـرګ نـه دی ـ ځکـه خـو ألـله تعالـی مسـلمانانو تـه امـر کـړی چـې ځـان هلاکـت تـه ونـه غورځـوي. د ژونـد نعمـت درونـد وګڼـي ـ اسـلام هـر انسـان د ژونـد د خوندیتابـه پـر ضمانـت مکلـف کـړی دی.
جنـت د وینـې پـه توییـدو کـې نـه، بلکـې د وینـې پـه حرمـت ترلاسـه کېـدای شي، تـه یـوازې د خپـل ژونـد دیـوه نـه وژنـې، بلکـې خپـل مـور، پـلار، خوینـدې ورونـه هـم پـه ژونـدوني درسره وژنـې ـ پـه وار وار یـې وژنـې، هـره لحظـه یـې پـه هیلـو او ارمانونـو اور بلـوې، هـره شـېبه پـرې مـرګ د محکومیـت پرېکـړه پـرې تپـې.
ځکـه خـو تـه د خپـل مـور، پلار، خوینـد، ورونـو، دوسـتانو او کورنـۍ د وینـو پـور وړی یـې، تـه چـې لـه ځـان سره څومـره کسـان الـوزوې د هغـوی او د هغـوی د خپلوانـو ټولـو خـون سـتا پـر غـاړه دی.

خون ناحق دست از دامان قاتل بر نداشت
دیده باشی لکه‌های دامن قصاب را

د اسـلام فلسـفه د ژونـد ده، د مـرګ نـه ده، ځکـه چـې د عمـل ډګـر ژونـد دی ـ د جنـت د حصـول لار د ژونـد لـه منځـه تېـره شـوې ـ مـرګ عمـل تـه د پـای ټکـی دی او دیـن ټـول عمـل دی، ځکـه خـو د جنـت پتـه، پـه ژونـد کـې نغښـتې، پـه هدیـرو کـې د عمـل هنګامـه غلـې او د عمـل ارابـه پـه ټپـه ولاړه ده، هلتـه خامـوشي او غـلي غلیـا ده. اللـه تعالـی انسـان پـه ژونـدوني، پـر ځمکـه خپـل خلیفـه ګرځولـی او تـه دې تـه دربدلـی یـې چـې د ځـان پـه الوزولـو پـر ځمکـه د اللـه تعالـی خلیفـه ووژنـې؟
اللـه تعالـی خلافـت پـر ژوندیـو انسـانانو لورولـی ـ د مـرګ او مړیـو خلیفـه یـې نـه دی غـوره کـړی. څـوک چـې د اللـه لـه خلیفـه ژونـد اخـلي ـ هغـه د ألله تعالـی د دښـمنۍ پـر ګڼـل کېـږي او جنـت څـوک د اللـه تعالـی پـه دښـمن کـې نـشي ګټلـی. سـتا نیـت بـه ښـه وي، خـو تـه خپـل عمـل مـه خرابـوه، څومـره چـې سـتا نیـت ښـه دی ـ دومـره خپـل عمـل هـم ښـه کـړه.
اللـه تعالـی د ژونـد نعمـت پـر تـا او نـورو بندګانـو ګـډ او یـو ډول لورولـی ـ دغـه نعمـت تـه پـه سـپکه مـه ګـوره ـ څـوک چـې د اللـه تعالـی نعمـت تـه پـه ټیټـه ګـوري، د جنـت حقـدار نـشي ګرځېدلـی، تاتـه یـې دروغ ویـلي چـې ګڼـې جنـت پـه مـرګ، وژلـو، الوزولـو کـې دی. جنـت پـه ژونـد کـې دی، ژونـد خپلـه جنـت دی، د جنـت یـو ډول تعبیـر او تصویـر دی.
انسـان چـې کلـه پـه عمـل او کـردار خپـل ژونـد وغځـوي ـ د ژونـد ارابـه چالانـه وسـاتي، پـه ژونـدوني جنـت ګټلـی شي، راځـه پـه دنیـا او اخـرت دواړو کـې د جنـت نعمتونـه خپـل کـړو.

## د ژوند وړې لارښوونې

**جاکسون براون　　ژ/ سپین سهار**

۲۱ - د ورځې نیم ساعت، تېز پلی وګرځه؛
۲۲ - ښـه ډېـر وخانـده، خنـدل وړیـا دي، ارزښـت یـې زښـته ډېـر؛
۲۳ - کله هم غالې مکوه؛
۲۴ - غـوږ نیـول زده کـړه؛ کلـه کلـه چانسـونه ډېـره ورو دړه در وهـي؛
۲۵ - د خلکو نومونه یاد کړه؛
۲۶ - د هېوادونو د پلازمېنو نومونه یاد کړه؛
۲۷ - کاږه او کیـڼ غاښـونه دې د غاښـونو پـه ډاکـتر ورغـوه، پـاک یـې کـړه؛
۲۸ - لـه هېچا «هیلـه/ امیـد» مـه اخلـه، کېدای شي دا یواځـني څـه وي، چـې لـري یـې؛
۲۹ - داغي غاښونه دې پاک کړه؛
۳۰ - تکړښت ملګری پیدا کړه؛
۳۱ - د مـلي سرود د ویلـو پـر وخـت ودرېـږه، لاس دې پـر زړه ونیسـه؛
۳۲- - د شـیانو د لرلـو دعـا مکـوه، د عقـل و زړوتیـا لرلـو دعـا وکـړه؛
۳۳ - د خپلې مېرمنې خوږ ملګری اوسه...!
۳۴ – لـږ تـر لـږه پـه کال کـې یـوه پـلا د لمـر لوېدلـو ننـداره وکـړه؛
۳۵ – هر چاته په ډېره مهربانۍ لاس ورکړه؛
۳۶ – د نورو سترګو ته وګوره؛
۳۷ - «زښته ډېره مننه» ویل عادت کړه؛
۳۸ - «هیله کوم» ویل عادت کړه؛
۳۹ – د موسیقۍ یوه آله زده کړه؛
۴۰ – د ځـان وینځلـو پـر مهـال لـه ځـان سره سـندرې ووایـه؛
۴۱ – لګښت دې تر ګټې کم کړه؛
۴۲ – موټـر ارزان بیـه لـره، خـو کـور هومـره ښـکلی چـې تـوان یـې لـرې؛
۴۳ – ښـه کتـاب ان کـه نـه یـې لولـې هـم هرومـرو وپېـره؛
۴۴ – ځان او نور وبښه (ببښنه عادت کړه)؛
۴۵ – چـې پـوی شـوې ورتیـا یـې لـرې، د لـوړ مقـام وړاندیـز وکـړه؛
۴۶ – پورونه دې ژر پرې کړه؛
۴۷ – لـه خلکـو سره هغسـې چلنـد وکـړه، څـه وړ یـې چـې لـه نـورو تمـه لـرې؛
۴۸ – بې ځنډه نورو ته مننلیکونه واستوه؛
۴۹ – خوښـۍ سـبا تـه مـه پرېـږده، هـم نـن خونـد تـرې واخلـه؛
۵۰ – رایه ورکړه؛
۵۱ – نـور مـه ملامتـوه، د خپـل ژونـد مسـوولیتونه دې پخپلـه ومنـه؛
۵۱ – لـه مشـله تـوب (خـوش طبعـۍ) دې د خندولـو ښـه ګټنـه وکـړه، نـه بـده ګټنـه؛
۵۲ – د یوې دورې انځورونه دې وکسه؛
۵۳ – کوچینیـان لـه دګلـو (تنبیـه کولـو) وروسـته پـه غېـږ کـې ونیسـه؛
۵۴ – پخپل لاس ښکلي لاسي توکي ساز کړه؛
۵۵ – خپلې تېروتنې ومنه؛
۵۶ – د واده ورځـې نمانځنـه دې کلـه هـم مـه هېـروه؛
۵۷ – د خـیر کارونـو تـه وخـت ورکـړه، لـه زړه مرسـته پکـې وکـړه؛
۵۸ – روغتیا ارزښت ګڼه؛
۵۹ – کـه چـا د دنـدې وړاندیـز درتـه وکـړ، کـه خوښـه دې هـم نـه وه، یـو وار ورسره کېنـه، کلـه هـم چانـس لـه لاسـه مـه ورکـوه؛
۶۰ – کـه ګټـه دې ډېـره هـم وه، اولادونـه دې کار کولـو تـه وهڅـوه، د زده‌کـړې د میاشـتني لګښـت یـوه برخـه یـې پرېکـړه...




# فکرمنه رایه

حفیظ الله تراب

**جیمیکا جانه چې کوټې ته راننوته، نو خوله یې له خندا نه داسې خلاصه پاتې وه، لکه پشمک الوګان یې چې خوړلي وي.**
**- ما سره د مننې الفاظ نشته، له دې نه وروسته، چې ته رانه هر څه غواړې منم یې، ته څومره ښکلې او با استعداده انسان یې، رښتیا چې زموږ د دفتر نابغه یې.**
**زما نه چې خبره هېره وه، حیران شوم، هسې مې هم د هغې وېرووونکي څېره ډېره بدې شوه، هغې، چې به کله وخندل، نو ېېخي به د انګلیسي فلمونو بلا ښکاره کېده. په وېره مې ورته وویل، چې زه پوی نه شوم، خیریت دی؟**
**. خیریت څه، چې خوشحالي ده، اخترونه دي، اخترونه.**
**زه حیران شوم.**
**. ډونر ستاسې راپور ډېر خوښ کړی، ډېر زیات خوشحاله دی...**




... جیمیـکا جانـه چـې کوټـې تـه راننوتـه، نـو خولـه یـې لـه خنـدا نـه داسـې خلاصـه پاتـې وه، لکـه پشـمک الـوګان یـې چـې خوړلـي وي.
- مـا سره د مننـې الفـاظ نشـته، لـه دې نـه وروسـته، چـې تـه رانـه هـر څـه غـواړې منـم یـې، تـه څومـره ښـکلې او بـا اسـتعداده انسـان یـې، رښـتیا چـې زمـوږ د دفـتر نابغـه یـې.
زمـا نـه چـې خـبره هېـره وه، حیـران شـوم، هسـې مـې هـم د هغـې وېرووونکـې څېـره ډېـره بـدې شـوه، هغـې، چـې بـه کلـه وخنـدل، نـو ېېخـي بـه د انګلیـسي فلمونـو بـلا ښـکاره کېـده. پـه وېـره مـې ورتـه وویـل، چـې زه پـوی نـه شـوم، خیریـت دی؟
ـ خیریـت څـه، چـې خوشـحالي ده، اخترونـه دي، اخترونـه.
زه حیران شوم.
ـ ډونـر ستاسـې راپـور ډېـر خـوښ کـړی، ډېـر زیـات خوشـحاله دی.
لـه دې سره مـې خـبره رایـاده شـوه، مـوږ، چـې د ټاکنـو پـه برخـه کـې کومـې پـروژې اخیسـتې وې، نـو پـه پـای کـې د ټاکنـو کـې ډونـر د جنـډر پـه هکلـه راپـور هـم وغوښـت. د ډونـر موخـه دا وه، چـې لـه ښـځو سره خـو بـه پـه ټاکنـو کـې زور زیاتـی نـه وي شـوې، کـه وي، تاسـې یـې مـوږ تـه عاجـل راپـور راکـړئ. حیـران شـو، چـې څـه ورتـه ووایـو؟! ځکـه د جنـډر پـه برخـه کـې مـو پـه نامـه داسـې یـوه ښـځه کېنولـې وه، چـې بـې لـه تـورو نسـوارو لـه اچولـو یـې بـل کار نـه و، هغـه نـه د جنـډر لـه سره خبره وه او نـه لـه بېخـه، خـو بیـا هـم مـدني فعالـه ګڼـل کېـده.
ښـځه پـرون مازیګـر زمـا دفـتر تـه راننوتـه، حیـران وو، چـې د ډونـر دې خـبرې تـه کـوم پرتـوګ وګنـډو. یـو خـو هسـې هـم د پارلمـاني ټاکنـو نـادودو هـک پـک کـړی وم، اخـر مـې لـه ځانـه سره وویـل، زمـوږ د دفـتر خـو پـه دروغـو کـې کلونـه تېـر شـول، راځـه داسـې یـوه کیسـه ورتـه د جنـډر پـه برخـه کـې ولیکـه، چـې لـه خلکـو لاره ورکـه کـړي، کیسـه داسـې پیـل شـوه:
عزتمن ډونر صیب!
سره لـه دې، چـې د ټاکنـو د کمېسیون لـه ټولـو نـادودو خلـک ښـه خبر و، خـو مشـوانۍ تـرور د هېـوادني احسـاس لـه مخـې وکـړای شـول، چـې د هاوانونـو او مېزایلـو پـه شـغا کـې لـه خپـل کـوره راووځـي. هغـې خپلـه ارتـه او لویـه چـادري پـر سر او د کلي پـه کوڅـه کـې لکـه زرنـج روانـه شـوه. لـس شـل ګامـه بـه لا نـه وه تللـی، چـې یـو څـو مېزایـل تـرې وړانـدې پټـو کـې ولګېـدل، خـو هغـې بیـا هـم شـا تـګ ونـه کـړ. مشـوانۍ تـرور فکـر کاوه، چـې زمـا پـه یـوې رایـې کېـدای شي، چـې خـدای مـو لـه پخوانیـو غلـو نـه خـلاص کـړي. هغـه پـه همـدې فکـر کـې وه، چـې د ټاکنـو مرکـز تـه نـږدې شـوه، خـو لـه بـده مرغـه پـه همـدې وخـت کـې د هـاوان یـوه ګولـۍ د مرکـز سره ولګېـده، د مرمـۍ د لګېـدو سره موظـف پولیـس پـروت وکـړ، خـو دا پـروت یـوازې د هغـه پـروت نـه و، د پولیـس کلاشـینکوف د مشوانۍ تـرور پـه چـادرۍ کـې ونښـت او هغـه یـې هـم د پـروت پـر وخـت سرچپـه پـه ځمکـه د هېـواد دراتلونکـې غونـدې راوغورځولـه.
سره لـه دې، چـې سر یـې ډېـر ژوبـل او سخت درد یـې کاوه، خـو مشـوانۍ لکـه د کومانـډو سرتېـرې نېغـه ودرېـده او ځـان یـې د مرکـز دروازې تـه ورسـاوه. د دروازې خلکـو، چـې د هغـې ارتـه او شـکېدلې چـادرې ولیـده، نـو لـه وېـرې ټولـو هـی کـړل، ګومـان یـې کاوه، چـې کـوم ځانمرګـی راننـوت. لـه دې سره هغـې ورغـږ کـړ:
ـ باتورانـو مـه تښـتئ، ځانمرګـی نـه، زه د رشـتیانو ښـځه یـم. هغـه سـاوتیګاه د رایـې اچونـې کوټـې تـه پـه پـوره ټېـل کـې ورننوتـه. زړه یـې و، چـې د سـتړیا لـه املـه پـر کومـې چوکـۍ کېنـي، خـو خبره نـه وه، چـې د سـهار تـر یوولسـو بجـو پـورې لا د ټاکنـو د مامورینـو د چوکیـو او مېزونـو درک نـه وو. ورپسـې داسـې وخـت راغـی، چـې شـیان خـو پیـدا شـول، خـو د بایـو میټریـک پـه اسـتعمال یـو هـم نـه پوهېـدل. خلکـو، چـې د مامورینـو ناپوهـي او لټـي ولیـده، نـو یـو ځـل خـو یـې زړه و، چـې د ټاکنـو لـه خلکـو نـه پـه وهلـو د بوسـو خـسې جـوړ کـړي، د مشـوانۍ تـرور زړه هـم نـور خولـې تـه راغلـی و او چـې کلـه یـې خپلـې شـکېدلې چـادرۍ تـه ولیـدل، نـو یـې وویـل:
ـ زه دې د بایټـرټ پـه خـبره نـه پوهېـږم، شـی دې کېـږده، چـې ګوتـه پـرې ولګـوم، لـه دې سره یـې د کارکوونکـي لـه لاسـه واخیسـت او ګوتـه یـې پـرې زور کـړه، سـړي ورتـه حیـران حیـران کتـل، ورپسـې ورتـه بلـې ښـځې وویـل، سـتا نـوم پـه لیسـټ کـې نشـته.
مشوانۍ ترور سترګې وربرګې کړې:
ـ دا سـتا ګنـاه ده، زر کـوه، مشـوانۍ دې راکـړه، چـې ګوتـه پـه کـې ننباسـم، خـو مامـورې لا پـوره انـکار نـه و کـړی، چـې هغـې پـر مشـوانۍ ورټـوپ کـړ، لاس تـه یـې راغلـه، خـو نیمایـي رنـګ د مامـورې پـه پـوزه او نیـم مـخ ورتـوی شـو.
د هغـې پـه لیـدو خلکـو تـه خنـدا ورغلـه او روان دېموکراتیـک بهیـر تـه نـور هـم سـخت حیـران شـول، چـې همـدې کـې مشـوانۍ تـرور د نوماندانـو د لیسـټ بنـډل هـم تـر لاسـه کـړ او د رایـې اچونـې غرفـې تـه نېغـه ورننوتـه، پـه ډېـر تکلیـف یـې د خپلـې خوښـې نومانـد پیـدا او تـر څنـګ یـې ورتـه کرښـه راکښـله او بیـا داسـې نېغـه راووتـه، لکـه د ډیورنـډ کرښـه چـې یـې فتحـه کـړې وي.
د تللو پر وخت یې خلکو ته وویل:
ـ دې وطـن کـې، چـې خپـل حـق پـه سـوکانو لـه چـا وانخلـې، نـو پـه کـراره یـې واللـه کـه څـوک پـه سـلو کلونـو کـې هـم درکـړي. زمـوږ خلـک خـو دې خـراب کـړل، چـې نـورو تـه پـه تمـه ناسـت او ځانونـو نـه یـې پسـونه جـوړ کـړي دي او چـې داسـې وي، نـو د نـن وخـت لېـوان بـه یـې اخـر لـه سـتوني تېـر کـړي. خـو هغـه اوس لاس تـر زنـې دې خـبرې تـه ناسـته ده، چـې د ټاکنـو کمېسـیون بـه یـې رایـه د نامـراده بایومټیـرک لـه املـه باطلـه او کـه سـمه وګڼـي؟!.



# د هیواد طبیعي زېرمو ته اندېښنه

اسمعیل لاروی

**طبیعت د رنګینیو او لذتونو لبریزه تابلو ده او د انسان تصویر په دې تابلو کې تر ګردو اشیاوو روښانه او پاموړ دی نو ځکه ځینې پوهان د ټولو موضوعګانو مځراقي نقطه (انسان) یادوي. د انسان په ګډون هر ژوندی موجود د چاپېریال له نورو ژوندیو او غیر ژوندیو موجوداتو تغذیه کوي، مستقیمې او غیر مستقیمې اړیکې ورسره لري او خپل ژوند ته دوام ورکوي. هوا، اوبه، خاوره او دا هر څه چې په دې زنځیر کې موجود دي، یو له بل سره ټینګې اړیکې او یو پر بل اغېزې لري. هغه چاپېریال چې انسان ورسره اړیکې لري، د انسان لپاره یې پالل او پایښت حیاتي مسایل جوړوي؛ جې، سي، امبرلین د همدې زنځیر تعریف داسې کوي: «د ژوندیو موجوداتو یو جمعیت چې د چاپېریال له غیر ژوندیو موجوداتو سره متقابلې اړیکې ولري، اکوسیستم باله شي» نوموړی زیاتوي چې تر ټولو لوی او نړدې اکوسیستم چې زه یې پېژنم جهان دی، ټول حیوانات او نباتات چې د ځمکې پر کره باندې پایي، د همدې اکوسیستم اجزاوې تشکیلوي. په عمومي توګه په هر اکوسیستم کې د وخت په تېرېدو یو لړ بدلونونه راځي چې په همدې بدلونونو کې یې ځینې مهم باله شي او ممکن د اکوسیستم د اجزاوو تر منځ ټکرونه رامنځ ته کړي، په اکوسیستم کې د ژوندیو (حیوانات، نباتات، مایکرو ارګانیزمونو...) او غیر ژوندیوي (اوبه، خاوره، هوا) تر منځ موجودې اړیکې داسې دي چې د هر یو شتون په طبیعي توګه پخپل ځای مهم دی او نه شتون یې په بل هغه تاثیر لري، مثلا؛ که نباتي پوښښ د ځمکې له مخه وتوږل شي، ځمکه تخریبېږي او د ځمکې تخریب د سېلابونو د راتګ باعث کېږي او هوا چټلوي. ...**

... په ټوله کې همدا تخریب د ژوندیو موجوداتو ژوند ګواښي، د ژوند په چاپېریال کې د ژوندیو موجوداتو تر منځ د تغذیې کولو او استفادې پر اساس یو ډول رقابت موجود دی، کنت واټ وایي: «انسان د چاپېریال له اجزاو سره د رقابت توان لري او د استفادې په دې سیالۍ کې د ځینو ژوندیو موجوداتو د ډولونو په له منځه تلو توانېدلی چې دا چاره نور ژوندي موجودات نه شي کولی یا نور ژوندي موجودات د نورو ژوندیو موجوداتو نسلونه له محوې او ورکې سره نه مخامخوي». نوموړی زیاتوي؛ د طبیعي منابعو د پایښت یوه لاره دا ده چې انسانان باید له شته منابعو څخه په عاقلانه او د راتلونکي په باره کې د غوره لرلید درلودو پر اساس ګټه واخلي.

جغرافیایي جوړښتونو او سیاسي نظامونو د همدې لوی اکوسیستم (جهان) تر منځ کرښې رامنځ ته کړېدي او د طبیعي منابعو وېش هم د همدې کرښو پر اساس شویدی خو بیا یې هم اغېزې یو پر بل شته او ځینې وخت دا کرښې نړوي او داسې مسایل رامنځ ته کېږي چې د یو هیواد د طبیعي زېرمو د کموالي یا چټلي له سببه په بل هیواد کې ممکن یو لړ تغیرات محسوس شي. د بېلګې په توګه که د یو هیواد نباتي پوښښ له منځه لاړ شي، هوا چټلېږي او دا ککړتیا د ګاونډیو هیوادونو هوا هم چټلوي او له سببه یې په دې لوی اکوسیستم (جهان) کې تغیرات رامنځ ته کېږي. د اوبو د کموالي او چټلي ستونزه دا مهال په ټوله نړۍ کې عامه ده.

هر هغه څه چې د انسان له لاس وهنې بغیر را منځ ته شوي وي، طبیعي بلل کېږي. طبیعي زېرمې یا منابع د نړۍ په کچه د ګڼو ارزښتونو درلودونکې دي، دې منابعو ته د نفوس په زیاتوالي سره د نړۍ په کچه اړتیاوې زیاتېدونکې دي خو دې اړتیاوو او غوښتنو ته د طبیعي منابعو ځواب د تنزل په حال کې دی (حشتمی او ملګري یې؛۱۳۹٦) . دا مهال د هرې طبیعي زېرمې د مدیریت لپاره اجتماعي، اقتصادي او محیطي اړخونه سنجول کېږي. ځنګلونه، څړځایونه، کانونه، سیندونه، خاوره، هوا او ټول هغه څه چې د محیط اجزاوې جوړوي او زموږ د ژوند اړتیاوې پوره کوي، د پام وړ دي. د همدې طبیعي زېرمو مدیریت په داسې ډول باید وشي چې یوازې د اوسني نسل نه؛ بلکې د راتلونکو نسلونو اړتیاوې هم په نظر کې ونیول شي او همدا شان پورته ذکر شوي درې اړخیزه سنجش هم لازمي دی چې د شته منابعو په باره کې باید وشي. نور هیوادونه د ملي پارکونو او د سیاحت له طبیعي ځایونو څخه میلیاردونه ډالر عواید لري. موږ دلته د نورې نړۍ د طبیعي زېرمو په باره کې د بحث توان نه لرو خو دومره کولی شو، چې د افغانستان طبیعي زېرمې او خطرونه په لنډو یاد کړو، په طبیعي زېرمو او طبیعت کې رامنځ ته کېدونکي خطرونه او بدلونونه دکتور کمال امیدوار د انسان او طبیعت له سببه بولي، هغه چې د انساني جمعیت له لوري رامنځ ته کېږي، رنګونه یې جنګ، فقر، اقتصاد رکود، د نفوس ډېر زیاتوالی، مهاجرتونه... یادوي او هغه چې په طبیعي توګه رامنځ ته کېږي لکه زلزله، اتشفشانونه، توپانونه، سیلابونه... دي نو هغه څه چې په انسان پورې اړه لري، د انسانانو له لوري د کنترول وړ دي او ممکنه ده چې په دې برخو کې پاموړ ثبات رامنځ ته شي، د بېلګې په توګه جنګ د انساني ټولنو خپل منځي مساله ده چې طبیعت پکې هیڅ مداخله نه لري خو همدا جنګ پر طبیعت او طبیعي زېرمو اغېزې خامخا لري، په افغانستان کې د زیاتو زهري وسلو کارېدلو له سببه زیاتره سیمې د کر کیلي له لوړو حاصلاتو ولوېدې، یا د زیاتره وحشي ژویو ډولونه او نسلونه په همدې جنګونو کې یو مخیزه ورک شول. د ځمکې لاندې زېرمو د قاچاق او لوټ زمینه برابره شوه، دولتي یا عام المنفعه ساحې ولوټل شوې... نو همدا د انسانانو خپل منځي ستونزو پر طبیعي زېرمو هم اغېز کړی.

### د افغانستان د طبیعي زېرمو اوسنی وضعیت

د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز په یو راپور کې لیکلي دي: « امریکا یو جیولوژیکي ټیم، چې د افغانستان د کانونو په اړه یې څېړنه کوله، له اوږدې مودې وروسته دې پایلې ته ورسېد، چې د افغانستان په ۳۰ سلنه خاوره کې د درې ټریلیون ډالرو په ارزښت کانونه دي چې اوسپنه، مس، لیتیم، یورانیم، سره زر او د ډبرو سکاره پکې شامل دي». د ۸ صبح په یو راپور کې راغلي:« د امریکا د ناسا فضایي مرکز د نویو څېړنو له مخې، په دغه هیواد کې د درې ټریلیون ډالرو په ارزښت بیلابیل کانی توکی شته خو نورې منابع د افغانستان د کانی توکو ارزښت او کچه تر دې څو ځله زیات ښیی». تر اوسه په ټول هیواد کې د ځمکې لاندې طبیعي زېرمو ۱۴۰۰ ساحې پېژندل شوېدي. په همدې راپور کې وړاندې د قیمتي ډبرو په باره کې داسې لیکل شویدي:« د نویو ترسره شویو څېړنو له مخې، همدا اوس افغانستان یوازې د مرمرو ډبرو ۳۵ ډوله په ۴۵ بیلابیلو رنګونو کې لری چې تر ټولو مشهور یې د خوګیانیو او د هرات د چشت شریف سپین مرمر، د سمنګانو کریمی رنګه مرمر، د کابل تور مرمر، د وردګو فولادی رنګه، د تره خیلو او کاریزمیرو شین رنګه او د کندهار د سور رنګه مرمر دی چې د نړۍ له ترټولو ښایسته مرمرو ډبرو څخه ګڼل کیږی». د د ۸ صبح په یوه بله لیکنه کې چې د تمیم عاصي له لوري شوې او ضیا صادق پښتو کړې د افغانستان د ځمکې لاندې د شته طبیعي زېرمو په باره کې داسې لیکل شویدي:«د امریکا متحده ایالتونو د ځمکپوهنې سازمان (USGS) د سروې پر بنسټ، د اټکل له مخې د افغانستان د طبیعی زېرمو ارزښت یو ټریلیون ډالرو ته رسیږی. په دغه څېړنه کې یوازې د افغانستان د ۳۰ سلنه طبیعي زېرمو پایلې شاملېږی چې د سویډن، برتانیې هېوادونو، پخوانی شوروی اتحاد او د (USGS) شوي وروستی سروې په وسیله تثبیت شوې دي. په دغه طبیعی شتمنیو کې اوسپنه، غیراوسپنیزې زېرمې او باقیمته منرالونه لکه لیتیوم، یورانیم، امبیوم هم شاملېږی».

د ازادي راډیو په یو تحلیلي راپور کې چې عنوان یې د افغانستان طبیعي زېرمې د ګټې پر ځای تاوان اړوي، داسې راځي: « د بریتانیا په ګلوبل ویتنیس نهاد کې د افغانستان د فعالیتونو مدیر ستیفن کارټر چې د طبیعي زېرمو، شخړو او اداري فساد ترمنځ اړیکې څېړي، وایي، حکومت پر طبیعي شتمنیو کنټرول نه لري».

بي بي سي په خپل یو راپور کې کاږي: « په نیویارک ټایمز ورځپانه کې چې د افغانستان د طبیعي زېرمو په اړه خپور شوی رپوټ کاږي، که چېرې د افغانستان پر لیتیوم طبیعي موادو کار وشي، نو له سعودي عربستان سره به خپل ځان سیال کړي».

د ۱۳۸۷ - ۱۳۹۱کلونو د افغانستان د ژوند د چاپېریال لپاره په طرحه شوې ستراتیژي کې د دې هیواد د طبیعي زېرمو په باره کې اندېښنه ښودل شوې. نږدې ۸۰٪ د افغانستان اوسېدونکي خپلې اړتیاوې له طبیعي زېرمو بشپړوي، د طبیعي ځنګلونو نږدې نیمایي برخه تخریب شوې، څړځایونه همداسې ښودل شویدي. د خاورې په باره کې ویل شوي، چې په ځینو برخو کې تر دې حده د ځمکې برسیرن پوښ تخریب شوی که انسان یې په رغېدو کې ونډه وانخلي په طبیعي توګه دا چاره ناممکنه ده چې په خپله دې خاوره دوباره خپل طبیعي حالت غوره کړي او همدارنګه د ځنګلي ساحو لغړېدل، د څړځایونو او خاورې د تخریب له سببه د هوا او د څښاک اوبو د ککړتیا په باره کې هم اندېښنه ښودل شوېده. استاد نجیب الله حسن زرمتي په خپل یو وروستي تحقیق د افغانستان د ځنګلونو اندازه ۱.۱۵٪ ښودلې چې د څلوېښت کاله وړاندې زماني په پرتله تقریباً درې برابره همدا ځنګلونه کم شوي او له منځه تللي دي. د وحشي ژویو خو زیاتره ډولونه او نسلونه ورک شول او لا هم د دې وحشي ژویو غیر قانوني ښکار د هیواد په ټولو برخو کې کېږي، اوبه خو مو هسې هم ګاونډیو هیوادونو ته بهېږي نو دا د افغانستان د طبیعي زېرمو د اوسني وضعیت په باره کې یو لنډیز و، هیله ده چې په هره برخه کې بشپړې او دقیقې څېړنې وشي.

### څه کول په کار دي؟!

د انسان او طبیعت تر منځ درې ډوله اړیکې موجودې دي: ۱ ) انسان پر طبیعت غلبه کوي، یعنې انسان په بشپړه توګه طبیعت تر کنترول لاندې راولي. ۲ ) انسان له طبیعت سره همغاړیتوب کوي، انسان په طبیعت کې د ناوړه پېښو او بدلونونو په پام سره په طبیعت کې ګام اخلي. ۳ ) طبیعت پر انسان غلبه کوي، زلزلې، توپانونه، اتشفشانونه... چې انسان یې پر وړاندې هیڅ هم نه شي کولی، دا پر انسان د طبیعت ښکارنده بېلګې دي(دکتور معیري ۱۳۹۷). په افغانستان کې موږ د طبیعت او انسان د لومړۍ رابطې شاهدان یو، انسان غواړي چې په خپله ټوله توانایي او خوښه د طبیعت له ټولو اجزاوو په بشپړه توګه استفاده وکړي چې دا بیا د طبیعت او انسان د دریمې اړیکې رامنځ ته کېدو سبب کېږي، یعنې که انسان له طبیعته ناوړه استفاده وکړي، ممکن دا ناوړه استفاده یو وخت پر انسان د طبیعت د غلبې باعث شي، همدا د انسان او طبیعت تر منځ د همزیسته اړیکو رامنځ ته کېدو فرهنګ ته اړتیا ده.

د طبیعي منابعو په اوسني مدیریت کې د اکوسیستم او محیط زیست د پایدارۍ پر موخو ټینګار کېږي چې ټولنیز موضوعات، په مدیریتي پرېکړو او تصمیم نیولو کې د خلکو ګډون او پایښت لرونکې توسعه په پام کې نیول یې مهم اړخونه جوړوي. د پایښت لرونکې ټولنیز پرمختګ لپاره لازمي ده چې له منابعو او فرصتونو څخه سمه استفاده وشي، د امتیازونو او مشترکو منابعو عادلانه وېش وشي او خلک د مشارکت په محور کې راوستل شي. د دکتور محمود جمعه¬پور په وینا؛ هره ټولنه هله پایښت لرونکې پرمختیا ته رسي چې د انساني نسلونو او د نسل په داخل کې عدالت موجود وي او دا څه په افغانستان کې نشته.

د طبیعي منابعو او محیط زیست د اقتصاد په یو کتاب کې د انساني ژوند پایښت او بقا د طبیعي منابعو په پایښت او بقا پورې تړلی بللی شوی، په دې کتاب کې راغلي چې د ژوند په چاپېریال کې زموږ ګڼ شمېر لویې ګټې خوندي دي، د انسان د ژوند پایښت او سکون د همدې زېرمو او منابعو په پایښت او تعادل پورې تړلی دی. چاپېریال په طبیعي توګه بشپړ او خوځنده جوړښت دی، د همدې چاپېریال په طبیعي بشپړوالي او خوځنده اړیکو پوهېدل او هغه څه چې لاس ته تري راځي او انساني اړتیاوې پوره کوي، په زړه پورې مراحل تشکیلوي، چې لومړیتوب پکې د شته ستونزو درک دی که همدا ستونزې درک شي او د پایښت لرونکې طبیعت لپاره لازمي هڅې وشي نو د پایښت لرونکې طبیعت خاوندان به شو.

د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو د ژوند د چاپېریال د پروګرام (NUEP) له لوري د ۲۰۰۳ زېږدیز کال په یو راپورکې راغلي چې د زیاتره ټولنیزو مسایلو جګړو، فقر، د نفوس زیاتوالي او نورو له سببه د دې هیواد طبیعي زېرمې زیانمنې شوېدي نو که د طبیعي زېرمو د ساتنې مساله مهمه وي نو لومړی د همدې مسایلو په باره کې کار ته اړتیا ده.
یوه بله موضوع چې خورا پامور ده، په افغانستان کې د ملي ارزښتونو او شتمنیو د ساتنې او پالنې فرهنګ خورا ځبل شوی او له منځه تللی دی، دلته طبیعي زېرمې د هر چا د غلبې او وس تر توانه د هغه فرد ملکیت جوړېږي، لازمه ده چې یو داسې فرهنګ او کلتور رامنځ ته شي چې د خپلو راتلونکو نسلو راسره شریکو زېرمو ته پایښت ورکړو. پروفیسور علی یخکشي د ژوند د چاپېریال او د طبیعي زېرمو د ساتنې په یو بحث کې وایي: «تر هغو چې پر ټولنو مادي او فکري فقر حاکم وي، د بودیجو ځانګړي کولو او سازمانونو جوړېدو باوجود به هم خپلو موخو ته ونه رسېږو».
د شته طبیعي منابعو د ساتنې لپاره لازمي ده، چې د هیواد په کچه خو اړخیزه کمیسون یا نهاد جوړ شي چې په هغه کې د کرنې، اوبو لګولو او مالداری، د کانونو او پټرولیم، اقتصاد، لوړو زده کړو وزارتونه او د ژوند د چاپېریال اړوند اداري او سازمانونه پکې غړیتوب ولري او همدا کمیسون دې د هیواد په کچه د طبیعي منابعو پر وړاندې شته ننګونې او خطرونه وسنجوي او له هغه وروسته دې د هر وزارت دنده معلومه کړی شي چې څه کول په کار دي؟ ځینې داسې مسایل شته چې درک یې اسانه دی، د بېلګې په توګه د ملي پارکونو ویجاړتیا او غصبېدل چې ټول هیوادوال یې ویني، کول حشمت خان، ناور، نورستان... ته هیڅ پام نه دی شوی او ټولې اداري یې په ویجاړ او ناسم حالت خبرې دي. د هیواد په زیاتره سیمو کې طبیعي مناظر او د سیل کولو ځایونه شته چې د بې غوری او پام نه کولو له سببه یا ویجاړېږي او یا هیڅ عاید ترې نشته، حال دا چې په نوره نړۍ کې همدا منظرې د هیوادونو په کلنیو عوایدو کې پامور ونډه لري. د منابعو څېړلو او ګټو روښانولو لپاره علمي او متخصصو کسانو ته هم ضرورت دی، د دې تر څنګ ننګونکي مسایل چې په طبیعت کې پېښ او پېښېدونکي دي، د هوا د ککړتیا عوامل، د اوبو ککړتیا، د خاورې تخریب... هغه موضوعات دي چې په اړه پوهېدو او په باره کې یې تصمیم نیولو لپاره متخصصو کسانو ته اړتیا لیدل کېږي. د طبیعي زېرمو ساتنه او پالنه یوازې د نظامونو او رسمي ادارو چاره نه ده، بلکې د خلکو ګډون او همکاري په دې برخو کې خورا اړین دي. د نړۍ په ټولو برخو کې د رسمي ادارو او سازمانونو تر څنګ ولسي ټولنې او نهادونه شته چې له طبیعي زېرمو څخه ساتنه کوي او دا زموږ په هیواد کې هم لازمي دي. د بېلګې په توګه که د افغانستان د ځنګلونو په ساتنه کې ولسي ملاتړ او همکاري نه وي، حکومت په هیڅ ډول نه شي کولی ځنګلونه له بې قانونه او غیر مسلکي وهلو وساتي. زیاتره هغه هیوادونه چې په اقتصادي توګه کمزوري او بد حالت لري او یا جنګونو پکې طبیعي زېرمې او د ژوند چاپېریال ګواښې، ځینې داسې نړیوالې اداري او سازمانونه شته چې د طبیعي زېرمو د ساتنې، پالنې او احیا په برخه کې همکاري کوي، F.A.O په نوره نړۍ کې د طبیعي زېرمو د ساتنې او پالنې په برخه کې مرستې کوي، د بېلګې په توګه د ځنګلونو او څړځایونو د ساتنې او پالنې په برخه کې دوی له فقیرو هیوادونو سره یو لړ همکاری لري که افغانستان هم خپلو طبیعي او قابل تجدید منابعو ته له همداسې ادرسونو د مرستې غوښتنې او منظم پلانونه ولري، ممکنه ده چې د همدې مرستو پر اساس مو طبیعي زېرمو له خطرونو وژغورل شي او پایښت ته یې نسبي کار وشي.
د څړځایونو او ځنګلونو له منځه تلل، د ملي پارکونو غصب او ویجاړتیا، د کانونو غیر قانوني کیندل او قاچاق، د اوبو ناسم مدیریت، د هوا ککړتیا او د ژوند د چاپېریال ککړتیا، د وحشي ژویو د نسلونو له منځه تلل، د کرنیزو ځمکو د ساحو راکمېدل... او نور هغه مسایل دي چې زموږ نظام او خلک یې په اړه بې غوره دي او دا هر څه د نفوس له زیاتوالي او وخت تېرېدو سره په لویو ستونزو او بحراني حالت بدلېدونکي دي.

**ماخځونه**


استراتیژي ملي محیط زیست، جمهوری اسلامی افغانستان. استراتیژی انکشاف ملی افغانستان ۱۳۸۷ - ۱۳۹۱.
امیدوار، ک. مخاطرات طبیعي. دانشگاه یزد. ۱۳۹۵.
جمعه پور، دکتور محمود. عوامل اصلی در فرآیند توسعه پایدار: مردم، منابع، فضاها و نقش مشارکت مردمی در آن. فصلنامه علوم اجتماعی. ۱۳۸۲.
جي، سي، امبرلین. ترجمه: باقر،م. نجار،ب. مقدمه¬ای بر اکولوژي. دانشگاه علوم کشاورزی و منابع طبیعی گرگان. ۱۳۸۷.
حشتمی،غ. سیروسی،ح. حبیب،ر. احیای عرصه¬های طبیعی تخریب یافته، کاربرد اصول علمی. دانشگاه علوم کشاورزی و منابع طبیعی گرگان. ۱۳۹٦.
کنت واټ. ترجمه: وهاب¬زاده،ع. مبانی محیط زیست. انتشارات جهاد دانشگاهی مشهد. ۱۳۸۳.
معیری، دکتور محمد هادي. جزوه درسي. مدیریت جنگلهای پایدار. دانشگاه علوم کشاورزی و منابع طبیعی گرگان. ۱۳۹٦
یخکشی،ع. مدیریت سازمان جنگلها و مراتع و حفاظت محیط زیست ایران در مقایسه با سیستم مدیریتی پاره ای از کشورهای اروپایی. دانشگاه مازندران. ۱۳۸۲.
Najeeb,H,Z. Usage of GIS, Remote sensing and GPS technologies for study of forest area destruction and support of the forestry in Afganistan.
R.Quentin,G. Adamwicz,W. Dupont,D. The economics of the environment and natural resources. Blackwell publishing,2004.
Timo pukkala. Multi- objective forest planning. Kluwer Academic Publishers in 2002.


# د کم عمره ودونو بدې پایلې


محمد سلیم ودان


واده د دوو انسانانو او کورنیو ترمنځ یو ستر تړون دی، چې د دې تړون اصلي اجزاوې یو نر او یو ښځه تشکیلوي کله چې د دې دوو اجزاوو او عنصرونو تر منځ ښه همغږي او تناسب ولیدل شي، هغه تړون ډېر کلک، ګټور، خوندور او زړه راښکونکی ثابتېږي.
په افغانستان کې د ډېرو ستونزو ترڅنګ یوه لویه ستونزه د کم عمره ودونو کول دي چې په ټولو نړیوالو او ملي قوانینو کې جواز نه لري خو دا چې زموږ په هېواد کې د جنګ او بربریت یوه اوږده دوره تېره شوې ده او تر ډېره یې اوس هم حتی په ښارونو کې وګړي قانون ته درناوی نه لري او اکثره کړنې یې د قوانینو خلاف دي، په هېواد کې د طالبانو د واکمنې د ړنګېدو او د نوي نظام له جوړېدو سره سم د ستونزو د حل او د انساني کرامت د ساتنې لپاره په لسګونو قوانین تصویب او په رسمي جریده کې خپاره شول، چې د قوانینو د تطبیق لپاره نړیوالو د حکومت په چوکاټ کې او په خصوصي توګه نوي ارګانونه، موسسې او خپلواکې اداري رامنځته کړي، خو د دوی د اوږدې مودې فعالیت او بې شمېره لګښتونو سره سره د قوانینو د رعایت او د سرغړونو د کمېدو اهداف ترلاسه نه شول.

واده د دوو انسانانو او کورنیو ترمنځ یو ستر تړون دی، چې د دې تړون اصلي اجزاوې یو نر او یو ښځه تشکیلوي کله چې د دې دوو اجزاوو او عنصرونو تر منځ ښه همغږي او تناسب ولیدل شي، هغه تړون ډېر کلک، ګټور، خوندور او زړه راښکونکی ثابتېږي.
په افغانستان کې د ډېرو ستونزو ترڅنګ یوه لویه ستونزه د کم عمره ودونو کول





دي چې په ټولو نړیوالو او ملي قوانینو کې جواز نه لري خو دا چې زموږ په هېواد کې د جنګ او بربریت یوه اوږده دوره تېره شوې ده او تر ډېره یې اوس هم حتی په ښارونو کې وګړي قانون ته درناوی نه لري او اکثره کړنې یې د قوانینو خلاف دي، په هېواد کې د طالبانو د واکمنې د ړنګېدو او د نوي نظام له جوړېدو سره سم د ستونزو د حل او د انساني کرامت د ساتنې لپاره په لسګونو قوانین تصویب او په رسمي جریده کې خپاره شول، چې د قوانینو د تطبیق لپاره نړیوالو د حکومت په چوکاټ کې او په خصوصي توګه نوي ارګانونه، موسسې او خپلواکې اداري رامنځته کړي، خو د دوی د اوږدې مودې فعالیت او بې شمېره لګښتونو سره سره د قوانینو د رعایت او د سرغړونو د کمېدو اهداف ترلاسه نه شول.
اوس هم په هره برخه کې ښه په لوړه کچه غیر قانوني کړنې په مرکز، ولایاتو او ولسوالیو کې ادامه لري چې د دې سرغړونو له جملې څخه یوه ترټولو خطرناکه یې د هغه کم عمره ودونو کول دي چې له اسلامي اړخه نامشروع پېژندل شوي دي او د افغانستان د مدني قانون نړیوالو قوانینو او کنوانسیونونو غندلي او مطلق منع کړې دی.
د افغانستان د مدني قانون په اویا یمه ماده کې د واده عمر په داسې ډول مشخص شوی دی: «د ازدواج اهلیت هغه وخت پوره کېږي چې نارینه وو (۱۸) کاله عمر او ښځو (۱٦) کاله عمر پوره کړی وی.»
همدارنګه د مدني قانون د ۷۱ مادې په دوم بند کې د ماشومې نجلۍ د نکاح مطلق منع داسې صراحت لري: «د صغیرې جلۍ د نکاح عقد چې عمر یې (۱۵) کلونو څخه کم وي په هېڅ صورت جواز نه لري.»
همدارنګه په دا ډول نامشروع او جبري ودونو کې د هلک او نجلۍ څخه د ایجاب او قبول هغه حق دی چې اسلام دوی ته ورکړی دی، خو ورڅخه اخېستل کېږي، کم عمره ماشومان نه د ازدواج اهلیت لري او نه هم داسې ودونه چې د دوی د والدینو په وکالت او وسیله رامنځته کېږي، اسلامي او شرعي جواز لري.
د نړۍ اکثره بشري سازمانونه او اداري په دې بوختې دي، چې څنګه د نجونو د ګډ ژوند د ښه کولو د ښځو د تاوتریخوالی د ختمولو او د کمو عمره تحمیلي ودونو ته د پای ټکی کېږدي، د لندن د نجونو د کم عمره ودونو د مخنیوي او د هغوی د ژوند د ښه کولو منشور تراوسه پورې د پنځه افغان ادارو په ګډون د نړۍ (۴۹۰) ادارو منلی او لاسلیک کړی دی او ټول هیوادونه دغه منشور ته ژمن دي، خو په ډېر تأسف سره ویلای شو چې په افغانستان کې د ښځو چارو وزارت د بشر حقوق خپلواک کمیسیون او د نورو بې شمېره ملي او نړیوالو ادارو په شتون کې په تېرو اوو اتو شپو کې د افغانستان په یو هغه ولایت کې چې د افغان حکومت تر چتر لاندې په کې خلک ژوند کوي، د حکومت د مرکزي هرې اداري ولایتي څانګې په کې فعالیت لري، خو د دې ټولو سره سره د هلمند ولایت په مرکز لښکرګاه کې یو کس د سید احمد الفت په نوم خپلې دولس د یو ورور لورګانې د بل ورور دولس زامنو ته ورپه نکاح کړې دي.
دولس داسې نجونې چې عمرونه یې د یو نیم کال څخه نیولې تر شپږو کلونو پورې رسېږي، دولسو داسې هلکانو ته ور په نکاح کړې دي چې عمرونه یې د دوو کلونو څخه پیل تر اوولس کلونو پورې رسېږي.
ماشومتوب باید له خوښیو برخمن وي، چې د خپلې راتلونکې په اړه هیلې راوټوکوي نه دا چې د خوښیو خلاف په ماشومتوب کې د زور واده او نورې داسې کړنې یې پر ماشومانو تحمیل شي چې ژوند یې له خاورو سره سم شي که څه هم چې افغان مدني قانون د واده سن د هلک لپاره (۱۸) کاله او د نجلۍ لپاره (۱٦) کاله ټاکلی دی خو سره د دې اوس هم (۲۵) سلنه نجونې له (۱۵) کلنۍ مخکې ودېږي.
په مجموع کې ډېر دلایل شته چې د ماشومانو د ټیټ عمر ودونه د ماشومانو او ټولنې لپاره ډېر زیانونه څرګندوي، په ټیټ عمر واده، په ماشومانو زښته ډېره بده اغیزې پرېباسي دا بدې اغیزې تر هلک پر نجلۍ له ډېرو سختیو ډکې وي، حتی تر مرګه یې رسوي.
له تعلیم څخه بې برخې کوي، ډېری وخت ماشومې نجونې د واده کېدو سره سم په کورنۍ کې له خپلو ډېرو حقوقو بې برخې کېږي او د کورنۍ تاوتریخوالی لکه وهل، ټکول او جنسي څورونو سره مخامخ کېږي.
یو پوه وایي د هرې ماشومې نجلۍ واده کېدل یوه فاجعه ده، د هغې انجلۍ لپاره فاجعه ده، د هغې د ماشومانو لپاره یوه فاجعه ده او د هغې د هېواد د پرمختګ لپاره یوه فاجعه ده.
موږ د افغانستان د حکومت د هغه ژمنو هر کلی کوو چې د ښځو د حقونو د خوندیتوب او پرمختګ ډاډګیرنه ورکوي، خو دغه ژمنې باید عملي شي، د هېواد نوی نسل د افغان حکومت په ځانګړې توګه د ډاکتر غني د ټولو هغه پروژو څخه ملاتړ کوي چې په هغه کې د ښځو خوندیتوب او د هېواد د پرمختګ لپاره هر نر او ښځې ته د کار کولو زمینه په کې مساعده شوې وي.
د ډاکتر غني د بریالیتوب وروسته د هغه د حکومتي ډیپلوماټانو او د اروپایي ټولنې له مسوولینو سره په یوه ناسته کې دوی ژمنه کړې وه چې د ماشومانو د حقونو قانون به رامنځته کوي او لومړۍ مسوده به یې تر ۲۰۱۷ کال پورې رامنځته شي چې دا د افغانستان په عدلیې او قضایي برخه کې یو ښه ګام وو، مګر تر اوسه لا چې ۲۰۱۷ کال تېر شوی دی او ۲۰۱۸ کال هم په ختمېدو دی، خو نه ماشومان د سړک د سر څخه ښوونځیو ته راټول کړل شول، نه پر ماشومانو باندې د تحمیلي کارونو مخنیوی وشو او نه هم د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ګراف راښکته شو، دا زموږ د هېواد ټولو حکومتي ادارو ته په ځانګړې ډول سترې محکمې لوی څارنوالۍ او امنیتي او کشفي اورګانونو ته د ډېر شرم خبره ده چې د دوی تر سترګو لاندې په یو ځل د ځلروېشتو ماشومانو ژوند د هغوی د والدینو او د ناخبره او ناپوهه ملا امامانو په وسیلې تباه کېږي، خو دوی لا تر اوسه کوم اقدام نه دی کړی.
د افغانستان قوانین به د نړۍ ترټولو ښه قوانین وي، خو په کتابونو کې هېڅ ګټه نه کوي، ترڅو چې په هېواد او خلکو مین مسوولین دا قوانین تطبیق او عملي نه کړي، همدا ناخوالې به ادامه لري او نړیواله ټولنه به تر قیامته زموږ په درواغجنو وعدو نوره غلطه هم نشي.
نه به دا هېواد د دې بې قانونیو او سرغړونو سره یو ګام پرمختګ وکړي.
د هلمند ولایت وروستۍ پېښې نه یوازې افغانانو ته دردونکې بلکې دا هغه پېښو له جملې څخه ده چې نړیوالو یې د مخنیوي لپاره تېر ۱۷ کاله میلیونونه ډالر مصرف کړل خو له داسې پېښو څرګندېږي چې د بهرنیانو هڅو ښې پایلې نه لري او نه هم د افغان حکومت عدلي او قضایي اداري دومره ظرفیت پیدا کړ چې د داسې پېښو د مخنیوي لپاره یو جدي ګام پورته کړي، لا هم ډېره اړتیا لیدل کېږي چې د داسې پېښو او د ماشومانو د ژوند د خوندیتوب لپاره د عامه پوهاوي ډېرې پروژې رامنځته او په رښتینې ډول عملي شي.
ترڅو د غیر قانوني او نامشروع کړنو په مخنیوي کې خلکو خپله برخه اخیستې وي او د دې ترڅنګ ستره محکمه لویه څارنوالي د بشر حقونو خپلواک کمیسیون د ښځو چارو وزارت او پولیس.
د افغانستان هغه اداري دي چې د قانون د حاکمیت او د یوې سالمې ټولنې د رامنځته کېدلو لپاره کار کوي او په ټولنه کې د جرمونو او سرغړونو د مخنیوي مسؤلیت لري، باید د ماشومانو د ژوند خوندیتوب ترڅنګ په هره برخه کې له قانون څخه تخطی کوونکی د قانون منګولو ته راکش کړی او اجازه ور نه کړي چې شته ناخوالې او ادامه پیدا کړي.
د افغانستان د جوړېدو او د قانون د حاکمیت په هیله





# په جلال آباد کې د پاکستان دوه کونسلګرۍ!

جبران جبرائيلي

**کله کله انسان داسي لفظ واوري چې هضمول يې ورته ناشوني شي، تېره اونۍ مې د انعکاس تلويزيون د خبريال هغه راپور چې د ويزې په تمه پر ناستو خلکو يې برابر کړی و، وليد. راپور دومره دردونکی او بوږنونکی وو، چې ما نه په کې د غاښ درد هېر شو او له هر چا نه يې لوری او لودن غلط کړی و، د ديوال تر څنګ او د کمپلو لاندې خلکو ټول اسلامي او افغاني معيارونه تر پښو لاندې شوي و، راپور د وهلو او ټکولو نه شروع او د ماشومانو او ښځو د مرګ په پوله ودرېد او د واک خاوندانو خپل سرونه له ګريوانو راويستلي و، دې ظلم او ناروا دي ته وهڅولم چې د عبدالحق په پارک کې د اونيو راهيسې د ويزې په انتظار په بې وزلو يو څو کرښې وليکم ددې نضارې سره سم راته د طورخم د خاسادارو د وهلو او کنځلو صحنه مخه ته ودرېده، زه اوس پاکستاني خاسادارو نه د زړې هومره ګيله هم نه لرم ځکه چې هغه افغانان نه وه او د انسانيت تمه ترې هم عبث وه، زه د مهاجرت پر مهال په ايران کې د پدر سوخته لفظ ډېر زوروَلم او په پېښور کې د پېښوريانو پېغورونو ويلې کولم، اوس چې د افغانانو په خپل کور کې دا حال دی نو په دې حالت خامخا د سړي زړه قطرې قطرې کېږي، زه يو ټکې ډېر وزورلم چې دا خدای وهلی ولس به کله د خاموشۍ دا سکوت ماتوي او په خوله لړېدلي مهرونه به کله له خولې لرې کوي، ما غوښتل چې په اوربند وغږېږم خو چې دلته مې دا اوربل وليد، مجبور يم چې په دې بل اور وغږېږم.**

زه نه پوهېږم چې په ننګرهار کې دا حاکم جريان په کومو چارو بوخت دي، ددې حيات ناکام مديريت خو د خلکو ژوند اخيستی چې هر څوک پوښتي، له فرياده پرته بل څه نه وايي، دی بد بختانو خو د ولس د خوب تعبيرونه ټول په اوبو لاهو کړي دي، دې حالت مانه هم د پړي سر غلط کړی دی چې د قدرت د ليونيانو سره سړی په کومه ژبه وغږېږي ما د خپل قبله ګاه نه په ۱۳۴۸ هـ کال کې يو پوښتنه وکړه چې ظاهر شاه مونږ ته ولې يو عمر خوړلی او زوړ والي سلطان عزيز خان راليږلی، دلته ما غونتې ځوان والي پکار دی، پلار راته په سړه سينه وويل بچو خانه هره ميوه چې په طبيعي ډول پخه نه شي رنګ او خوند يې نه وي، دا دې ٤٩ کاله وروسته بې رنګه او بې خونده کليمه اوس هم صدق کوي، داسې حکمراني دې خدای په اور پورې کړي چې نيم ولس ورته کنځل او نيم ورته ښېرا کوي او نيم درجن خلک پارک کې د ويزې په تمه خپل خوږ ژوند له لاسه ورکوي، د شاه جهان ماما زوی ته هر ځلېدونکی شی سره زر ښکاري، خدای دې دا. هم په ټپو کړي که رښتيا هم دا د ولسمشر ټيم وي، نو لرې نه ده چې دا ټيمان به د پوډريان په لاس د کباړيانو په دوکان کې په خرڅولو وګورئ، ماته يوه قيصه رايادة شوه، د يو انسان او پيري ملګرتيا جوړه شوه، ملګرتيا يې دومره خوږه شوه چې پيری به هر وخت سينه ډبوله چې په ورور دې غږ کوه، يو ورځ د سړي په بازار کې د چا سره نښته وکړه او ښه ډېر ډبول يې وخوړه، د خپل وهلو حال يې پيري ته تېر کړ، پيري د وعدې سره سم راراوان شو کله چې بازار ته راورسيدل، نو سړي د قصاب دوکان ته لاس ونيوه چې ده وهلی يم، پيري چې د قصاب سره چاړه وليده نو قصاب په خوا کې يی په حلوايي ورمنډه کړه دومره ډېر يې ووهلو چې خوار يې د ليټی خوراک ته برابر کړو، سړي ترې پوښتنه وکړه چې ما خو درته قصاب ښودلی وه، ته خو په حلوايي ورغلی پيري ورته وويل چې زما په کار کې کار مه لره ما پوره انصاف کړی دی يو سړي وهلی وې او يو سړی مې درته ووهه نور نو څه غواړې او که ستا دا خيال وي چې زه په قصاب ولې ورنغلم نو ته د چړې د زوره نه يې خبر.

والي صيب دې هم خير يوسي په حلوايانو ورځي او د پيري په څېر له چړې ډډه کی، که په دې ښار کې د سړي او پيري قيصه همداسې روانه وي نو بيا خو ماته د ډېرو يارانو په اوړو کې شړه ښکاري، ننګرهاريانو خدای مو مل شه. پرون راته چا وويل چې ډېر هوښيار شوی دی په حلوايانو هم نه ورځي، بلا ورپسې زه خپلې خبرې ته راځم يو کونسلګري په سټېډيوم کې جوړه شوې چې معمورين صاحبان يی مراجعينو ته په ۸ بجې ټاپه لګوي او د پاکستان د کونسلګرۍ مامورين په ۱۲ بجې ټاپه او کړکۍ بندوي په دې څلورو ساعتونو کې به د ۸ ولايتونو خلک څنګه ويزې ترلاسه کړي، چې عقل يې کم وي تل يې په کور غم وي، پاکستانيان د جمعې تر څنګ د يهودانو د ورځې رخصتي هم کوي، د هغې ګيله نه لرو که دا ښاغلی ددې مشکل له حل نه عاجز وي ولې يې ولس په شش او پنج کی اچولی، مجبور خلک په سل امريکايي ډالرو ويزه ترلاسه کوي، زه حيران يم چې دا کوم خلايي مخلوق دی چې د پاکستان د قونصلګيرۍ نه په څلور ساعتونو کې ويزې راوباسي او دا نور خواران په سړکونو خپلې شپې او ورځې شماري، ما د ننګرهار يو لوړپوړي چارواکي ته ويلي وو چې د يابو غونتې نه واښه خوري او نه اخور پرېږدي، هغه ښاغلی اوس هم ماسره دښمني پالي.

په هر حال زما د ليکنې مطلب دا نه دی چې زه بد نيت لرم، دا تراخه حقيقتونه ددې لپاره وايم چې دا ناخبره پرې خبر کړم که والي صيب خبر وي دا يو جرم او که ناخبره وي غذر بدتر از ګناه دا بل جرم لوستونکو زه د ليکلو دپاره ډېره حوصله لرم او دا مې دنده هم ده نور نه په هديره کی اذانونه کولی شم او نه اوښانو ته ربابونه وهلی شم، ننګرهاريانو که تاسې په دې حال خوښ ياست نو زما په سر هم څه سنډا پښه نه ده ايښې، يو خو دې خدای دا معدني(!) فعالان هم په سرو موچو وخوړل کې چې يوه ورځ يی هم د ويزو په تمه د ناستو خلکو غږ نه دی اوچت کړی، زما دا قلم بلا وهلی، هم د مدحې سره دومره حساسيت لري چې نه د چارواکو پروا ساتي او نه د چا د مقام.

رښتيا وايی او رښتيا ليکي دا چې ډېری خلک والي صيب ته ګوته نيسي او ددې په بې وسی غږېږي زه هم نه له چا سره د شوکانو د لاريو حساب کوم او نه د بندرونو فقط د مظلومانو اه ورته رسوم، زما په اند دا مشکل نه په تسبو اړولو حل کېږي او نه په تشو ويناګانو زه په اخر کې دې چارواکو ته د خپل بابا يو شعر ډالی کوم:

مرد به نه شي په ګفتار
څو پيدا نه کړي کردار

نامرد فخر په نصب کا
مرد نه مور لری نه پلار



# د ځان شيطان

د ولسمشر پخوانی ساتونکي
ډيوېډ کلارک يادښتونه
ژباړن: ملاکجل کرلانی

## د سلاکار نڅا

ځيني خپل خوبونه د نورو ارمانونه ګرځوي... سياستوال دا کار په اسانی تر سره کولای شي... دوی وار له مخه د اقتدار خوب ته سترګې پټې ساتي خو نورو ته يې د مزدور او خواريکښ د انقلاب په شعار کې وپېچي، اسلامي هېوادو کې يې د اسلامي نظام، جهاد، شريعت، خلافت او عدالت په ژمنو کې ونغاړي... دلته ده چې خلک د تورو نخودو په لالهاندی واوړي...

د ويښې خوبونه ډېری په همدې کرښو غزيدلي دي... د زاړه غوايي چې سترګې سره ورشي کونجاړه اخور کې پرته ګوري... د ويښې بلا ډېر خوبونه دي چې ډېری له چانس، بخت او تصادف سره تړلي:

پوهه مه غواړې طالع له خدايه غواړه.

تصادف، چانس او بخت چې درسره مل وي ولسمشري په تياره د سرو زرو غاب کې درته کيږدي، له خوب او خيال پرته دې غېږ پرې ډکه شي...

ولسمشر کرزي په دغسې کوم خوب ليدلی و...؟ زه وايم هېڅکله نه! ... که يې ليدلی وي ضرور به اودس پرې اوښتی وای،... بيا به کوم ويروونکی خوب نه وای ګڼل شوی خو که په ويښه يې د دغسې خيال پلو ته اشتها پاريدلې وي بيا د جيمز کابوس خبره رښتيا ده چې تر ځانګړو طبي کتنو او تجربو لاندې ونيول شي... بيا به دا سړی يا نابغه وي... يا احمق...؟

زما زړه کې ګرځي دغه پوښتنه د ولسمشر مخې ته کېږدم، خو له ډېرې مودې يې ښه موده کې نشم مونداې...

ده ته چې له بون ليږدوسيټ په سټلايټ د روزګان دهراوود کې د ولسمشرۍ زېری ورکړ، ښايي څو واره يې ځان سکونډلی او سترګې موښلې وي... د جيسون په خبره چې ده ته يې په وار وار ويل:... ته ګوره چې بيده خو نه يم د ليز خبرې مې په ويښه اورېدلې...؟ د جيسون په ډاډ يې هم زړه ته نه شوای لويدای... تر هغې چې جيسون له ځان سره وويل: ... بالکل د ويښې دا هغه زيری دی چې زما غوږو کې وار له مخه شرنګېده...

خوبونه څرنګه واقعيتونه ګرځولای شو...؟ دغه آرټ او هنر يا د افغانانو په خبره چم له ځينو سره وي، خو بيا هم د چانس، بخت او تصادف لارې څاري، ډېری يې غيبي مرستې يا لاس ته سترګې نيولې دي، چې دوی له ځان، خپلو خلکو د نورو اراده او پريکړې ټاکونکې ګوري...

افغانستان واکمنيو ته د رسېدو جلا او حيرانوونکی تاريخ لري ـ دلته پر چانس، جګړو، توطئو، غلامي، وينو او سرونو دا لار تېره شوې ده...

هيڅا له خپله انده د ملت په خوښه واک سره مخه ښه نه ده کړې... پر معاملو او توطئو يې ارګ کې پښې ښخې کړې دي، چې هېڅوک د ملت په خوښه ارګ ته نه دي ننوتلي ـ دلته ننوتل او وتل دواړه د سر په بيه او بهرنيو په پرېکړه خېژي...

نوې تجربه برهان الدين رباني وکړه... ده تخت او ولسمشري چوکی له ځان سره سمڅو، غارو، ان تخار او کولاب ته لېږدولې وه...

بله هغه د ولسمشر کرزي ده چې له بون لاس ور اوږد شو، د ارزګان غرو کې يې له غوږ رانيو، د پاچاهۍ جوغه يې ور ولګوله... دې ته د تياري واکمني وايي، لکه د تيارې ډوډۍ ... ما اورېدلي افغانان د تيارې ډوډۍ ته ښه نه ګوري، بېخونده، بېکاره يې ګڼي... خو وايي دا يو عادت دی چې يو ځل څوک پرې روږدی شو بيا د سلطان محمود لټان ورڅخه جوړ شي...

د تيارې واکمني خورا سخته ساتل کېږي... که د دغه واکمنې لپاره بون کې لږ خولې تويې شوې وای، ساتلو کې به يې دومره وينې نه وای تلې شوې ...

زه چې د دغسې چانسي او تصادفي واکمنۍ کيسه کله خپلو ملګرو ته تېره کړم، زړونو ته يې نه لوېږي... مايکل سارچ وايي دلته د يوې عادي دندې لپاره له ډګريو، وړتيا او تجربې سربېره هغسې انټريوګانې کېږي چې د ښوونځيو او پوهنتونو له کانکور ازموينو ګرانې خېژي...

زه ورته وايم افغانستان کې يې په تياره مومي... د لويديز پېزه پخوونکي او د هوټلونو ويټران چې تللي کارپوهان راوتلي... د ډګريو له خاوندانو يې هسکه وراچوي... له همدې ځايه د مسؤليت درک نشته، مصونيت يوازې تر غټانو پورې محدود دی، له پوښتنې، باز خواست خونديتوب د مور شيدې ګرځېدلې.

وايي پخوا يې افغانستان کې باز الوزاوه... چې د چا پر اوږده به کښېناست پاچا و... دا له جګړو، کودتاګانو او توطئو غوره لار ده...

مانا له انسان په دغسې پېژندنه کې د مارغه وړتيا کره او پخه راوتله ... لکه د انسانانو ډېری جرمونه د سپو لخوا کشف کېږي ـ يا د غله غدوی د شر په مخنيوي کې سپو ته مراجعه کېږي... همدا د سپې ښېګړه او د ګوربت فضيلت دی...

په مارغو کې دغه چاره ټپوس يا کارغه ته نه ده سپارل شوې چې په مرداره راټول وي... د ګوربت خپلې ځانګړنې دي، په تياره يې نه خوري، درغلي، ټګې په کې نشته... نظر يې تېز او ځير دی... د جوهر په درک او پېژندنه کې يې ليد ژور دی، غوراوي کې يې د ټګۍ، تقلب، درغليو او لاسوهنو مخه ډب ده...

دريمه نړۍ کې دا ترټولو ښه طريقه ده له کشالو او جنجالو خوندي دا د ختيز د دموکراسۍ يوه بېلګه ده چې زموږ له هغې ښايي هورې بريالی راوتلې... د غوراوي نورې لارې هم شته، خو په يو څه تشدد ولاړې دي... او څرنګه چې افغانستان د سياسي او جنګي تجربو لابراتوار ګرځېدلی ځکه خو بايد يو ځل بيا له سره وازمويل شي...

يو کتاب کې مې لوستي چې کومه سيمه کې يې د واکمنۍ د مودې په پای ته رسېدو، له واکمن ښې لاس پرې کړ... د خلکو يا نوماندانو منځ کې به يې پورته وغورځاوه... چې چا به رانيو هغه يې په تخت کيناوه... يو وار داسې شوه چې مخکنی پاچا خپل پرې کړی ښی لاس په کيڼ رانيو، د دويم وار لپاره يې پاچاهي وګټله... مانا لاسونه يواځې د طالبانو واکمنۍ کې نه پرې کېدل...

مخينه يې سياسي معادلاتو کې هم موندل کېدای شي...

وايي دغه پاچا دومره چالاک وخوت چې په دريم ځل يې پرې کړی کيڼ لاس په خوله رانيو... ځکه خو يې يو ځل بيا تخت په پچه ورسېد...

ښه ده چې دغه دود له منځه تللی که نه دلته چې د پاچاهي نشه هر سرته ختلی، شوني وه په څلورم وار يې پرې کړی غړی په بل څه رانيولی وای.

ځکه خو يو افغان شاعر وايي:

څومره ملا شرمې دي، دا د پېښور اوبه
هر چړي چې چنبلې سلطنت ته به يې تمه وي

اوس چې ختيز کې د واکمنيو په پای ته رسېدو لاسونه سلامت وي، شخصيتونه له منځه تللی... له ضمير او ايمان بې برخې او لپ لغړ پاتې وي... (قردتاً خاسئين) دلته د تاريخ له مسخه کېدو سره د دموکراسۍ د مسخه کېدو پر نخره هم سړی اوښتی شي هغه دا چې د يوولسو رايو د ګټونکي پر ځای د دو رايو ترلاسه کوونکی بريالی راوځي....

زه اندېښنه لرم چې افغانستان کې به کله هم له ټاکنو ښې پايلې ترلاسه نشي. ځکه خو سر له اوسه ښايي د غوراوي زړی يا نوې لارې ولټول شي... چې د ټاکنو پر وسه ماته بريالی نه ښکاري... په نورو ټکو دلته د واکمنۍ لېږد نه د ټاکنو او ولسواکۍ د وس خبره نه ده د باز... خو که ټپوس يې والوزاوه او د ه ته يې د غوراوي چاره وسپارله ښايي د چا پر اوږده د کيناستلو پر ځای يې پر سر د غولو په کولو دا ربړه اواره کړای شي...

دا ځکه دلته په ټاکنو کې بولي لګېږي، زور او زر لاره باسې... دا يې قواله په چا يې منې، خبره ترې راوځي.

که باز الوزوې وايي غلط شو، له سره يې والوزئ.

که لاس پرې کوې، په بل يې رانيسي ـ که بل يې پورته غورځوې په خوله يې راټينګوې دلته ناکام ګټونکی راوځي، چې له پخوا اکثريت محکوم او اقليت حاکم دی.

## نوره واړه پښتونخوا په ځای مېشته ده
## دا یو زه دې زماني پکې منصور کـــرم

# د دولس گرامه مغزو په کړلېچونو کې د ننگیال د «مغزو» تول

محمد آصف صمیم

زما ښاغلي دوستان به په تمه وي، چې د دولس گرامه مغزو تول د ښاغلي ننگیال د مغزو او قلم کمال دی؛ نو پر دولس گرامه مغزو څه توصیفي ویل په حقیقت کې د ننگیال د مغزو د ستاینې په مانا دي؛ خو ما پرعکس پر ننگیال او مغزو یې نه؛ د ننگیال د مغزو پر ترشحاتو او څخونو یو څو خبرې او شننې سره اوډلي دي، چې که د کومو ښاغلیو زړو ته پرېوځي؛ نو د دوی د سیاسي شعور او انتقادي سوچ د رباب تارونه به مې سندریز ترنگولي وي؛ خو که زړه پرې اوبه ونه څښي؛ نو دا یې هم حق بولم؛ خو ددې لپاره چې لږ تر لږه د ننگیال د نمانځنې او درناوي لپاره استحقاقاً یو څو ویونه او لفظونه ولرم؛ نو د ستر خوشال دا یوه مرغلره پاټکی کوم چې:

راشه وغږوه سترگې
د جهان ننداره گوره
چې ښایست لري په ستورو
د اسمان ننداره گوره
ددې خپل وجود په باغ کې
د باغبان ننداره گوره

د ښاغلي ننگیال د هنر او شخصیت نمانځنه او درناوی د هر هغه چا ادبي ژمنه ده، چې قلم لري، قلم چوي، قلم ننگوي، قلم پالي او بالاخره قلم ښکلوي او بیا ددې فطري حکم له مخې چې:

کند همجنس با همجنس پرواز

خو د قلموال او د قلم مینه‌وال فطرت دی، له هنرمن سره د خپل تړاو او اړیکو پرمخېنه او شالید وویاړي؛ خو زه که دې حکم ته ډېر ژمن شم؛ نو خپل کار (د مغزو تول) به رانه پاتې شي؛ خو ایله همدومره به له ننگیال سره د تړاو پر مخینه او شالید وویاړم چې:

«که په دې بختور او درانه باندار کې څوک د درېنیم لسیز عمر ژړی یا ژړي ناست وي؛ نو له خپل کمکیتوب تر تنکیتوبه کلونه دې زما او د ننگیال د اړیکیو، اعتماد، همفکری، هم ارمانی، هم دریځی او همرنگی په کنده وتلي، همدا زموږ دواړو د تېر مهال او وسمهال انځور دی.

راځم د هغو دولس گرامه مغزو بیا تول ته چې ښاغلي ننگیال او کېدای شي ژبپوهانو او سیاسي سپړونکیو ښه په داډه باور او ځیرتیا تللي وي؛ خو زه یې هم پر ځان د کړې باور او را باندې د شوي اعتماد له مخې د درېنیم لسیزې مخېنې په رڼا کې په بیا تول اړ او ژمن بولم».

زموږ د څوارلس کلن جهادي بهیر پر شالید، مخلید، لرلید او سوبو، ماتو، نیمگړتیاوو او پایلو د خپلو او پردیو سیمه‌ییزو او نړیوالو شنونکیو ډېر قلمونه ستړي شول، ډېر دولس گرامیزه ماغزه اوبه شول، ډېري هیلې نهیلې شوې، رسنوالو او لیکوالو شنونکیو د جهادي مقاومت په نمانځه او غندنه خپل ټولنیز او سیاسي فراست او تدبیرونه پکار واچول او ځپلي پاکزړي ملت ډېر مېړني ولړزول؛ خو له بده بخته دا دی د بدمرغۍ په څلورمه را برېدونکې لسیزه کې یې هم د ژغور او امید لمر، ځیره ونه وهله او هغه د حمزه بابا خبره:

ته هغه توره لیلی یې لکه وې
که څه هم ددې وروستي څلور لسیز پېر سیاسي او عسکري انځور لا دومره تت شوی نه دی، چې د ولس د دولس گرامه مغزو په کړلېچونو کې ورک شي، د ښاغلي ننگیال د حساس قلم په تله تللي دا دولس گرامه ماغزه نن هم که بدغواړیو مسموم نه کړل، ډېرې دغسې ملت ننگوونکې شننې ترې انگازنېدای شي، چې د رندو لارو ددې لاروي پردېس ملت لار او لوری سیخ کړي.

• د ننگیال د مغزو ځینې ترخه حقایق په دومره شهامت انځور شوي، چې لوستوال گڼي، چې گڼې یا د حقایقو او ارزښتونو «واکمن» محرفین یا له سره په واک کې نه دي او یا خدای مه کړه د ننگیال د ژوند کیسه گڼي:

اوس دې یادونه
افساني ښکاري

• او د مغزو خاوند د عالم اروا استوگن شوی دی:
وگورئ لوړه بیه ۴۴۲ - ۴۴۹ مخونه

• د مغزو خاوند د حقایقو په انځورنه کې دې قرآني ارشاد ته:

ژباړه: د هیڅ یوه قوم دښمني دې تاسې په دې جرم مجرم نه کاندي، چې د عدالت لمن پرېږدئ، عدالت وکړئ چې تقوا ته ډېره نژدې چار دی.
«المائده، ۷ آیت»

په درناوي او د ایمان په داډ او د اسلام او اسلامي نظام دښمنانو ته د پېغور د مخې د ورکولو پر ځای خپله لمن پخپله پر سر را اړولې ده. (وگورئ، ۴۶۰/ ۴۷۶/ ۴۷۹/ ۴۸۱/ ۴۹۰ مخونه)

• د مغزو خاوند، د پخواني رژیم مډالونه، نښانونه چې کیلو په (۳۰۰) افغانۍ پلورل کېږي، هم یادوي او د سرحدونو د وزیر (فیض محمد) د مېړانې مډال په پینځه سوه افغانیو رانیول. (وگورئ: ۴۶۵)

• پر رباني د مغزو د خاوند د ترخې خندا انگازه، چې وایي:
که په میوند کې شهید نشوې
چې پرې مینَ وم ترې چاپېر
مې کړل لاسونه
وگورئ: ۴۶٦

• د مغزو د خاوند د مغزو په کړلېچونو د حکمتیار ددې ویاړ انگازه چې، لیکوالو ته یې څرگنداوه:
«موږ تاریخ جوړوو، تاسې یې لیکئ.»
وگورئ: ۴٦٦

•
د
تا ر یخ
په باب د
محمود فاراني
د تعریف دا برخه
چې :
... (تاریخ، په تاریخ کې ریخ وهل دي)
همدا تېر مخ

د ملي جنایتکارو دومره زړوره ډاگیزونه لکه چې یواځې د همدې مغزو د خاوند په برخه رسېدلې ده.
وگورئ: ۴۷۰/۴۷۱ او...

• د ځینو ملي جنایاتو په برسېرونه کې د مغزو خاوند د خپلو ملي احساساتو د واگې په نه کابو کولو هم سړی نه شي گرَمولای:

... رباني پټه خوله تسبې اړولې، (په داسې حال کې چې پرتوگ یې په خټ اغوستی و.) (۴۷۱ مخ)

د مغزو د خاوند دا درد هم د حس کولو دی چې:

د پیچک پر غونډۍ د استاد سیاف مانۍ درېدلې، (خو) ظاهر شاه په څلوېښت کالو کې (ایله) یو کاریز میر جوړ کړ، خو (استاد سیاف) په څو میاشتو کې د ښار د ویجاړۍ په بیه څو کاریز میرونه ورغول. (وگورئ: ۴۷۱)

• (خبره د تسبو وه)؛ نو د تسبو اړولو په اړه چې اوس یې د فېشن بڼه خپله کړې، یوه خبره را یاده شوه چې:

• بېنظیر بوټو همېشه تسبې اړوې، د لومړي حکومت پر مهال یوه خبریال پوښتلې وه، چې په تسبو کې کوم ذکر کوې؟
وې: آیت کُرسي.
بله ورځ یې ورور (مرتضی) ویلي وو... آیت کرسي اورېده ده، د تسبو د هرې دانې له اړولو سره نه شي لوستل کېدای (ښکاري) چې بېنظیره یوازې کرسي، کرسي یادوي. (۴۷۱/۴۷۲ مخونه)

• د گیدړې د پوستکي طنز د مغزو د خاوند پنځونه کېدای شي. (۴۷۴ مخ)




• د استاد (رباني) بالاپوښ داسې معلومېده، لکه کوم خلايي مخلوق چې د ځمکې د بنیادمانو په منځ کې ولاړ وي، په کابل کې په دې موسم کې (داسې بالاپوش) د بل چا په تن نه لیدل کېده، یوازې په مسکو او سایبریا کې ددغه ډول ستر کوټ اغوستلو بېلگې لیدل کېدای شوې. (۴۷۴ مخ).

• پرله پسې ناکامیو (حکومت) بېرته په غار ننه اېست، یو ځل بیا یې پاکستاني سفیر ته ځولۍ وغوړوله، جنرال حمید گل او قاضي حسین احمد ته یې چې د خوب او ... رگونه معلوم وو، را منډه کړه، نواز شریف سوټې پسې را واخیست، او په اسلام آباد کې یې د سولې ترون ته را غونډ کړل. (۵۷٦ مخ)

• حل و عقد ډرامې په کابل کې د خونړۍ جگړې اور ژبغړاند کړ، استاد رباني ښایي په دې پوهېده چې په دې ډرامې د ملت سترگې له خاورو نه شي ډکولای، خو د واک د دوام لنډ، تنگ پرتوگ یې گرځولای شي. (۵۷۵ مخ)

• استاد سیاف د افغانستان تاریخ له څوارلس سوه کالو د یادونې وړ گاڼه... په داسې حال کې چې د ملتونو تاریخ له ادیانو لرغونی دی. (۵٦۳ مخ)

• خو په همدغه وېروونکي او جگړه ځپلي کابل کې د اقتدار په هوس مست په لوکسو لنډ کروزرو او پیجاروگانو کې داسې غوړ غوړ گرځېدل، لکه د ږیرې او سر له تار یې د زېړې غوا زېړ غوړي څاځي. (۱۹۴ مخ)

د دولس گرامه مغزو ټولگر ننگیال پخپلو ژمنو او متعهدو صادقانه شننو کې ډېرې؛ بلکې بېشمېره داسې کیسې او د واقعیتونو انځورونه لري، چې که دده ددې مغزو له پېچومو او کړلېچونو نه ډېرې لرې بېلگې هم وشنل شي، دده د همدې اثر هومره یو بل هم پرې کښل کېدای شي، خو زه په همدې څو ټکو کې د ښاغلي او ویاړلي ننگیال د فکر و قلم او ورسره بېساري همت او جرئت، یو تت غونډې انځور داسې کښلای شم چې:

د ننگیال دا تللي ماغزه د خاطرو، یادونو او تاریخي، صحافي او هنري ژمنتیا له رنگونو جوړه یوه رنگینه تابلو ده، چې تنسته او بوده یې د دقت، هنر، تاریخ، ادب او افسانه‌ییزې رنگینۍ یو زړه ټکوروونکی خوگلن دی.

د ننگیال په دې انځورلې تابلو کې د ملي دښمنانو ناولیو ارادو په بربنډونه کې سړی ډېر لږ دده د پارېدنې او بېواکۍ احساس کولای شي.

• ننگیال د تاریخ او وجدان له محاکمې د برائت او مخرونې لپاره بل چا او بل مخالف ته د خپلو ملي قایدنمایانو او سیاسي نیمگړتیاوو د پېغورنې حق نه ورکوي؛ ځکه خو پخپلو شننو کې د یوه رښتیني ژمن مسلمان لیکوال په توگه:

په ښکاره نارې وهي چې خوله یې راکړه

• ننگیال له خپل زار ځپلي او پاکزړي ملت سره د سیاسي او جهادي لوبغاړیو پر ناځوانیو د ترخې خندا، کترو او طنزونو ځانگړې وړتیا لري.

• د ننگیال قلم د خپلې سپېڅلتیا په داډ، د خپلې ټولنې د برخلیک‌سازۍ ژمنه او ارمان پاللی دی.

• د ننگیال د مغزو د انگازو په نغمو کې د استاد الفت خبره یو د اسې پټ احساس پروت دی چې ارام یې نه پرېږدي.

• د ننگیال د مغزو زېرمه سباني سپېڅلي او ناپېیلي مؤرخ ته د افغان ملت د ننني ریښتیني انځورکښنې لپاره یو بشپړ البوم ور په لاسوي.

• ژوندی او تاند دې وي د ننگیال اند او چلند دې د ننگیال سپېڅلی قلم.

په پای کې گران ننگیال ته پر خپلو ملي ټپونو د پهې اېښودو مبارکي وایم.

گران اسد جان دانش ساپی هم د یو جهان مننې وړ بولم، چې ددې «مغزو» د عامونې او هر چاته یې د رسونې لپاره زما دا وړاندیز ځمکې ته ونه غورځاوه، چې «دولس گرامه ماغزه» مخکتنه غواړي.

# هینداري ته مخامخ

له وېرې مې پینځه هینداري ماتې کړې، څومره به مې ماتولې...؟ بیا به مې د خپلو ماڼیو، بلند منزلو، مارکېټو هم ماتولې، دا ډېر لوی تاوان دی...

ددغو هینډارو بدگړه دا وه لکه د سکینر، ایکسرې یا ایم آر ای د سړي دننه مواد یې دباندې را ایستل، کولمې یې گزولای شوی، په گېډو کې یې د ډالرو غصب شویو ځمکو طول، عرض په فټ او سانتي ښودلای شوای، ما تر اوسه داسې هینداره نه وه لیدلې که نه مال له سره هینداري ته کتل نه، نن مې ناپامي کې مخ ور واړاوه ـ دا هینداري ټولې داسې وي، سړی په همدغه بڼه ښيي...؟

یو خو زه له خپلو پوزې تنگ بلکې پوزې ته راغلی وم، دا وړاندې داسې نه وه، هغه مهال یې دغه بڼه او کچه خپله کړه چې کشمیر هوایي شرکت کې مې پانگونه وکړه، دلته نو بېخي د کشمیر الوتکو پوز ته ورته شوه ـ لکه د الوتکو د پوز ډیزاین یې زما له پوزې کاپي کړی وي، ما وې له کمپنۍ به رایلټي غواړم، درې څلور الوتکې چې وغورځېدې پوز یې بېخي روغ پاتې وه... د بلک باکس پر ځچې یې نشوای راټولېدای خو پوز یې سلامت و، پوز خورا مهم پوزیشن بلکې اپوزیشن دواړه دي.

کلونه وړاندې د امریکا چینوټ چورلکې د انجمن پر غاښي د ډالرو بکسونه خپل پوز کې رالېږدول ـ کمال ټول د پوزې دی ـ بکسونه دومره درانه وو چې د چورلکۍ پوزه یې وپرسوله ـ چې له امله هم دغسې شوه، خربوزه از خربوزه رنگ میگره. که نه د انجمن پر غاښي به سمه نه وی راختلي...

که څه هم پوزه او د پوزې دغسې ماډل خورا د کار شی دی، خو زما زړه یې تور کړی ـ د دغسې پوزې یو کمال دا دی چې بد بوی پرې ښه لگېږي، گویا دننه فلټر لري ـ اوس امریکا کې د چینوټ چورلکې پوز هماغسې پرسېدلی جوړوي ـ ما ته یې د کاپي کولو پوره معاوضه راکړي.

له پوزې پرته زما څېره هم له دې وړاندې دغسې نه وه ـ هغه وخت په دې بڼه واوښته چې د ملک ناظر شوم ـ که څه هم چارې له یوې مخې زما په خوښه ترسره کېدې، په حقیقت کې زه خپله ملک وم، چې وار له مخې مې په ناظرۍ کې پر ملک تېره کړې وه...

په را وروسته کې مې هیندارو ته د دښمنۍ پر ځای د دوستۍ لاس اوږد کړ، دا چل راته د بړه مار وښود، چې د کینې لاس چاره یې بلله.

بیا هم هینداري ته په مخامخېدو ما یوه پټه وېره او اندېښنه په مخه کړې ـ چې دا څه گورم ـ څه بلا ده؟ هغه و چې د زړه حمله راباندې راغله ـ جرمني کې مې د زړه گېډې دواړو عملیات وکړل، مېډیا په غلطه زما د مرگ خبر ورکړ ـ عملیات ځکه اړین و چې شوني وه گېډه مې ټک چاودلې وای... ایکسرې کې څرگنده شوه چې د کابلبانک میلیونونه ډالر یې لویه کولمه کې بند دي، بلند منزلونه، ماڼۍ، مارکېټونه اپنډېکس کولمې ته اړم شوي وو، هاوانونه، ستینگر، کلاشینکوفونه، بې پس لَگد ښه وو له


ورانـدي هضـم شـوي وو.
د دوبـۍ الجمـيره بلډېنګونـه مـې لـه خولـې استـفراق کـړل، د ترکیـې هغـه پـه امالـه لـه لمنـې رک روغ ووتـل...
لـه عملیـات ورانـدې زمـا فشـار لـوړ وه، ډاکـتران وار خطـا ول، دومـره زیاتـه وینـه، نـژدې ده رګونـه وچـوي ـ کـه څـه هـم څـو واره پـه محمـد رحیـم نایـي ښـکر لګولـی و، خـو څـه ګټـه یـې نـه وه کـړې.
د وینـې ګـروپ کـې مـې د A, B, AB, -O راختـل، مانـا د هـر ګـروپ وینـه مـې د رګونـو کـې مونـدل کېـده ډاکـتران حـیران ول، خـو ماتـه پتـه وه ځکـه وارخطـا نـه شـوم...
ډاکترانـو تـه مـې ویـل، مـه راباسـئ، ترتیـب یـې پامـوړ وګنـئ، نغـد چـې څومـره دي د لویـې کولمـې پـای کـې د نـوي کابلبانـک څانګـه ورتـه پرانیـزئ. ډاکـتران زمـا لـه وزن هـم اندېښـمن وو، دوی تـه دا درک نشـوای لګېـدای چـې دا زمـا خپـل چاغښـت او وزن نـه بلکـې د هغـو توکیـو او مـوادو لـه املـه دی چـې مـا د خولـې، لمنـې او پـوزې لـه لارې د بـدن بېـلا بېلـو برخـو کـې زېرمـه کـړي، د خزانـو د خونـدي کېـدو دا ترټولـو اغېزمـن پرکټيـس دی، ځکـه زه اوس د خپلـې پـوزې لـه هـنر او ارزښـت سـترګې نشـم پټولـی چـې د مـوادو پـه تېرولـو کـې لکـه د مښـوکې کار کـوي ـ پـه تېـره د ډالـرو بنډولونـه چـې ښـايي لـواړ تېـر کـړای شي.
افـرازات قطعـاً نـه لـري، کلـه چـې وخـت لـړ وي ـ لـه پـوزې خولـې دواړو کار اخلـم، لـه همـدې املـه د چـور مسـابقه پـه پټـو سـترګو ګټلـی شـم...
لکـه پـوزه زمـا ټاکنيـزه نښـه ګرځېدلـې، دا يـې د ګونګيانـو لپـاره خبرونـو کـې زمـا د سـمبول پـه توګـه کارولـه، ځکـه خـو مـې پـرې بنديـز ولـګاوه.
دلتـه ده چـې پـه دې وروسـتيو کـې د پـوزې خـورا خيـال سـاتم، لـه دې پرتـه دا زمـا د دفـاع خـورا ښـه وسـيله ده، دفـاع وزارت کـې ډېـر پـه کارېـده... ځکـه خـو زمـا مقـام او رتبـه پخـه او کـره ده، نـه د رقابـت اندېښـنه شـته نـه د سـیالۍ وېـره. مهمـه دا چـې د دغسـې پـوزو پېـزوان نـشي ليـدل کېـدای. چـې خپلـه پېـزوان دی ـ مهـار يـوازې امريـکا پـه کـې اچولـی شي چـې د امريـکا برکـت لـه شـوروي زيـات دی...
ماتـه پـر دغـو خـبرو خنـدا راشي چـې وايـي ميډيـا ازاده ده، انټرنېـټ او ټکنالـوژي خلـک پـوه سـاتي، د معلوماتـو زېرمـې يـې پـر ورانـدې دي ـ د يـو دوو ټنيـو پـه کېکاږلـو يـې د دنيـا پوهـه معلومـات مخـې تـه پراتـه وي...
وايـي، اوسـنی نسـل هګـۍ کـې نـه بلکـې لـه هګـۍ دمخـه چونېدلـی، خـو دغـه خوارکـي تـر اوسـه خپـل ښـه بـد نـه دي پېژنـدلي ـ پـه داسـې حـال کـې چـې مـا خپلـه لمـن پـر سر اړولـې او سـل او زر پـردې مـې څيرلـې، خـو د کمپيوټـر او انټرنېـټ نسـل هماغسـې کـوڼ ړونـد ګرځـي...
ډېـل شـاه، ميډيـا د عـصر دجـال پېـژني، خـو زه ورسره موافـق نـه يـم ـ داجـل زه پېژنـم، مـا ليدلـی، د جـال پېژندنـه دومـره اسـانه، نـه ده...؟
پـر دغسـې ډوبـه ناپوهـۍ د لومـړي ځـل لپـاره زمـا زړه درد وکـړ، چـې لـه املـه يـې زه خپـل زړه او ضمـير نشـم پټولـی ـ کـه څـه هـم شـيطاني د هېنـداري ده، خـو خپلـه لاسـه ګلـه لاسـه.
زمـا ګومـان نـه بلکـې بشـپړ بـاور دی چـې دغـه اعـتراف بـه زمـا عجـز او انکسـار وبـولي، چېـرې بـه يـې زمـا پـړه او ګنـاه ونـه پېـژني.....
دغسـې پوهـه او هوښـياري د ښـوونځيو پـه پرانيسـتو او لسـو کالـو کـې د يوولسـو سـمو، ناسـمو نصـابي کتابـو پـه خپـراوي نـشي رامنـځ تـه کېـدای، چـې دلتـه ګنـاه، خيانـت او جنايـت چېـرې هـم جـرم نـه دی راختلـی. ...
دا ټـول د پوهـې، نـه د تاکتيـک او سـتراتېژۍ لـه املـه دي چـې مـوږ خپـل تاکتيکونـه همېشـه لـه چيګـوارا او ناپيليـون کاپـي کـړی، چنګېـز او هلاکـو مـو کتـلي...
دا ټـول زمـا د پـوزې لـه لارې پـه ليـزر خپلـو کولمـو او مغـزو تـه لېږدولي... ناټـو او ۴۸ هېـوادو کار پوهـان پـه تحقيق او ريسرچ بوخـت دي... ۲۰۱۴ کـې بـه يـې پايلـه راوځـي...؟

# نهال شکسته

مصطفی عمرزی

## (۱۵ عقرب، وداع نادیا انجمن)

روز های چند رقمی، در سال های عذاب، هر کدام از انتساب عزیرانی تشهیر می شوند که در التهاب جامعه ی دچار مرگ، می پندارند چه روزی فرجام است. ادبیات دری افغانی (سده های اخیر)، در لابلای حماسه از لحظه های غمین پُر است؛ مردان و زنانی که در روز های فرجام، یک رقم تاریخ اندوه را رقم می زنند. هیجان احساس که از درک بلند به شیوایی قلم می رسد، نویسنده گان و شاعران افغان را در فراسوی هستی به تاب می آورد.
گسست زنجیر ها، تجدد و شیفته گی از میراث فرهنگی قرون وسطی می برند. در تخلیق ادبی یک قرن اخیر، سروده ها و نگارش ها، اما در اوزان تکفیر و اعتقاد، هنوز درونمایه ی آفرینش هایی می شوند که از «قفس های تنگ»، بیرون می روند. در سرزمین ما، صدایی از غرب (هرات) از پشت کشیده گی های به اصطلاح رنسانس در زبان آشنای دری، گویی رسته از تکرار قلم گذشته گان، شعر را به خدمت کشیده بود.
رسالت نو ادبی که فقط یک قرن از بُرش آن از اوهام شعوبیه می گذرد و با طرد سنت مداحی، به خدمت مردم درآمد، در




گونه ای که عالی باشد، عامه را محظوظ می کند. رسم غم ها که با چند هجای کلمات حلقه می شوند، یک بار دیگر با قامت «دخت افغان» از عقب حصار های افتخاراتی گذشت که حتی در خشت و سنگ مدنیت آن، «تنگنا» اصل است.

نادیا انجمن:

**ای قدمت چراغ من!**
**صبح خجسته فال من چشم مرا فراز کن**
**وین دل دیر خفته را با خبر از نماز کن**
**پشت حصار حلقه ها سخت به هم فشرده ام**
**قفل مرا کلید شو وین در بسته باز کن**
**قمری بی لیاقت رانده ز شاخ شاهی ام**
**با لب اسم اعظمت با هنرم چو باز کن**
**نقش و نگار و خال و خط نیست به پا و سر مرا**
**جامه ز تار عشق ده وز ادبم طراز کن**
**تار ز هم گسسته گی چنگ به دل نمی زند**
**از رگ وصل و بسته گی شیوهء تازه ساز کن**
**من ز هجوم پرده ها قبله ز دست داده ام**
**دیدهء گمره مرا رو به حریم راز کن**
**هست من است هست تو، مهر مراد شست تو**
**حاجت من به دست تو، فارغم از نیاز کن**
**منزل نور دور و من رهرو جادهء شبم**
**ای قدمت چراغ من فکر ره دراز کن!**

نادیا انجمن، نهال شکسته ی ادب دری افغانی در تداعی سیزدهمین سال وداع، بار دیگر در غم های مردمان این سرزمین، سکوت غم را می شکند. احساس من از یافت معنی سروده های دختی که غم را شناخته بود در بازتاب واقعیت هایی شکست که در ردیف او، نشاید های دیگر، تراژیدی چند رقمی را شاید در روز های دیگر منسوب کند.
صحبت از ماضی و رفته، همواره با حس اندوه قرین است، اما در رقم ۱۵ سیزده سال قبل، مجموعه ی بازمانده که در سرشت ادبیات معاصر تنیده می شود، تفسیر، تحلیل و اخبار سایه هایی که به نام قید، مانع اند، در برابر کسانی قرار دارند که با مُهر «سیاه سر»، سیاه بختی، مُهر آماده در پیشانی تقدیر آنان است.
من از نسل نو ام. طیف من، مجموعه ی سرگردان است. اهم وهم ما، پیرامونی ست که در برابر هیچ، هر چه می خواهد. در این تکدر روزگار، ادبیات غم، شاید وسیله ی فشار مضاعف باشد که در برابر هستی ما، خط سرخ می کشد.
نادیا انجمن در تاریخی سرکشید که مجموعه ی سرگردان آن با روان پریشی اجتماع در تناقض ایده ها و باور هایی که به نام همه چیز یاد می شدند، حتی در حد مرز های خانه و کوچه، متفرق می شوند. این برای طیفی که از خاصیت مردانه گی در افت مردینه گی مرده بودند، در حالی مقرر بود که در حصار خانه های آنان، نفس های زنده گی، موج می زدند.

نادیا انجمن:

**عبث**
**نیست شوقی که زبان باز کنم، از چه بخوانم؟**
**من که منفور زمانم، چه بخوانم چه نخوانم**
**چه بگویم سخن از شهد، که زهر است به کامم**
**وای از مشت ستمگر که بکوبیده دهانم**
**نیست غمخوار مرا در همه دنیا که بنازم**
**چه بگریم، چه بخندم، چه بمیرم، چه بمانم**
**من و این کنج اسارت، غم ناکامی و حسرت**
**که عبث زاده‌ام و مهر بباید به دهانم**
**دانم ای دل که بهاران بود و موسم عشرت**
**من پربسته چه سازم که پریدن نتوانم**
**گرچه دیری است خموشم، نرود نغمه ز یادم**
**زان که هر لحظه به نجوا سخن از دل برهانم**
**یاد آن روز گرامی که قفس را بشکافم**
**سر برون آرم از این عزلت و مستانه بخوانم**
**من نه آن بید ضعیفم که ز هر باد بلرزم**
**دخت افغانم و برجاست که دایم به فغانم**

آری! دخت افغان. در قافله ی عقب مانده از زمان، محکوم است که از آخر بیاید. سیزده سال از مرگ نادیا انجمن می گذرد. دستور، ترتیب و سبک او در تاریخ معاصر ادب دری افغانی، سوژه ی مدام می مانند. مهم این است که شعر او از خدمت کلمات، احساس و عاطفه را از اندرونی آزاد می کند که تا رابعه ی بلخی در خون زنان، سهم تاریخ بود. فقط در کوتاهه ی ابتکاری که از کنار تکرار دیگران گذشت، شاید در نهایت بیان عاطفی، وداع زنده گی، هرچند در نو نهال ادبیات سرزمین ما، اما با شکسته گی، درد بیشتر یافته است.
نادیا انجمن از پیشه ی قلم، بقیه ی نامه ای را تمام کرد که در زمان او، گسترده تر از زنان و دختران قرن ها، التهاب حضور اجتماعی و احقاق حق، آنان را به شور می آورد. در این دنیای رنگین، همراه پیوند زنده گی مشترک که باید در سنت ما، جزو میراث آخرت باشد، ذهنیت ته مانده ای ست که امروز هیچ دختر باسواد افغان نمی پذیرد.
نادیا انجمن؛ نهال امید های یک فرهنگ دیگر که اگر می ماند، اذهان هزاران دیگر باز می شد تا به خود ارج بگذارند. او را در امید هایی جوانه ی نو شکستند. مردانه گی ما نیز جبر حاکم است.

# ځوان زخمي پاچا

عبدالهادي احمدزی

ځـوان زخمـي پاچـا لـه ځـان سره ټـول سـپاهيان روان کـړل، د يـوه جـګ غـره پـر لـور روان شـول.
لـه څـو سـاعتونو وروسـته د خپـل هېـواد د يـوه جـګ غـره څوکـې تـه لـه پښـو لوېدلـی، سـتړی سـتومانه ورسـېد. پاچـا لـه خپلـو سـپاهيانو سره کېناسـت، يـو څـو غټـې غټـې سـاه ګانـې يـې واخيسـتې، بېرتـه پورتـه شـو! لاسـونه يـې د خپـل هېـواد يـخ شـمال تـه خـلاص ونيـول او سـترګې يـې پټـې کـړې... لـه ځـان سره يـې وويـل: پاچاهـي پـدې ارزي چـې سـلګونه سـپاهيان پکـې شـهيدان شي... بېرتـه يـې سـترګې خلاصـې کـړې.
يـو لـوړ رتبـه سـپاهي ورتـه د خپـل هېـواد وياړلـی بيـرغ راووړ او د پاچـا مخـې تـه يـې خـښ کـړ. سـپاهي پـه لـوړ اواز وويـل: ژونـدی دې وي زمـوږ د سـتر هېـواد سـتر پاچـااااا....!!!
ټولـو سـپاهيانو خپلـې وسـلې ودرزولـې، ودرزولـې، ښـې يـې ودرزولـې...
بيا يې وويل: ژوندی دې وييييي......!!!
ځـوان زخمـي پاچـا ټولـو تـه لاس جـګ کـړ، ټـول سـپاهيان غـلي شـول او پـه غـره کـې سره تيـت شـول، چـا خېمـې درولـې، چـا لرګـي راوړل، چـا څـه کـول، چـا څـه...
پاچـا خپـل سـګرېټ را ووېسـتل، يـو ټـک يـې تـرې پورتـه کـړ، لـه ځـان سره يـې وويـل:
"کـه دې نـړۍ تـه رښـتيا هـم د ژونـد لپـاره راغلـی يـې، کلـه کلـه يـو جـګ غـره تـه خېـژه او ژونـد کـوه...".



# د ساينس د حکمت فلسفه

م. ماليار- لغمان

ساينس هغه الهي نعمت او ځواک دی چې انسان پرې د بېوسی له ګردابونو راوځي، په دې تراو مې د امریکا د جورج ټاون پوهنتون د فلسفې، ساينس، رياضي او فزيک پروفيسور سيد حسين نصر د مقالې يوه برخه چې د سيد جمال الدين خبره يې را اخيستې را ياده شوه، نوموړی ليکي:

د اسلام د ۱۹ پېړۍ ستر اسلامپال، سترګور عالم، نامتو فيلسوف او سياسي څېره سيدجمال الدين افغان نومېده، نوموړي ځان الافغاني باله. علامه افغاني يو اصلاح پال شخصيت و، د لويديځ له ساينس سره يې خورا مينه درلوده، د اسلام دوباره احياء او برم يې ستره هيله وه، ده باور درلود چې لويديځ ځکه پرمخ تللی چې ساينس ته يې بشپړه پاملرنه کړې، په داسې حال کې چې ساينس له اسلام څخه راټوکېدلی دی او د مسلمانانو ميراث دی. اسلامي اُمت بايد خپل ميراث، په خپل مالکيت کې راولي ځکه په ساينس کې لوړ پرستېژ او برم پروت دی.

نو مسلمانانو ته بويه چې ځانونه د العلم ساينس په ګاڼه وپسولي او ځانونه د ساينس په ښکلي لباس سينګار کړي،

د اسلامي نړۍ لوی عالم دوکتور يوسف القرضاوي په يوه مرکه کې د يو خبريال د دې پوښتنې په ځواب کې داسې وويل، چې د هستوي او وژونکو وسلو توليد د اسلام له نظره څنګه ارزوئ؟

ډاکتر قرضاوي ورته وويل: زه يې فرض بولم چې مسلمانان يې بايد توليد کړي، ځکه چې غربي نړۍ پر خپلو بې رحمه بمونو او توغنديو د اسلامي هېوادونو ځمکې او فضاء ترخپلو ولکو راوستې، د دوی له ځمکنيو سرچينو او تجارتي بندرونو څخه خپل اقتصاد خړوبوي، د جنګ او کرکو زړې درګرده د اسلامي نړۍ په بطن کې کري، زموږ مقدساتو ته سپکاوی کوي، که مسلمانان د دوی د وسلو ضد وسلې توليد کړي، دوې به دا جرئت ونه کړي له زموږ ځمکې لاندې کړي او پر موږ نادودې وکړي، نو پايله کې يوه سوليزه فضاء رامنځ ته کېږي چې د وسلوالې سولې فضاء يې بولم.

د اصول فقهي قاعده هم کټ مټ همدا امر کوي او وايي:

مالا يتم الواجب الا بهِ واجب!

يانې د يو واجب کار ترسره کولو لپاره هغه وسايل چې موږ يې موخې ته د رسيدو لپاره کاروو واجب دي.

ددې علم لپاره ګام بايد له خپلو ښوونځيو واخلو او د دې ستر ارمان د پوره کېدو سفر بايد د ښوونځيو د لابراتوارونو او کتابتونونو څخه پيل کړو.

هو! همدغه کوچنی ګام راته د يوې سترې رڼا زېری راکوي.

مشهور فيلسوف کنفسيوس وايي: زرګونه کيلو متره سفر له يوه کوچني ګام اخېستلو پيلېږي.

همدا ښوونځي دي چې د دوی له دريځو د برم د توغ د رپېدا ځرک پکې ليدلی شو.

لوی فيلسوف اناتول فرانس وايي: پوهه هغه کيلي ده چې ټولې ترلې دروازې پرانيزي.

نو په ډاډ ويلی شو چې زموږ د وروسته پاتې والي او نني بدبختيو لامل دا دی چې له موږ همدا د برم او بريا کيلي ورکه ده.

راځئ! همدې تورتم کې د رڼا دا کيلي ومومو او د خپلو هيلو پر جزيرې د علم په غبرګو وزرونو الوت وکړو او له خپل نړۍ خوند واخلو، دا ځمکه يوازې د مينې زړی کرل غواړي.

ستر شاعر فردوسي هم د خپلو هيلو پر خيالي جزيرو دا ډول الوت کوي.

به يزدان چنين گفت که ای دادگر
تو دادی مرا دانش و زور و فر

که زر څله دغه سترې لار موږ سترې کړي، زمونږ زړم څل هڅه به موږ د خپل موخې تر درشله ورسوي.

د اډيسون په وينا چې ما زر ځلې ماته خوړلې خو دې کار سره ما د بريا زر لارې موندلې. ما ماته وپېژنده او د برياليتونو خوند مې وڅکه، په دې وپوهېدم چې بريا ته له سختو ننګونکو، پيچلو او سترو لارو تېرېدل خومره زيار غواړي او دا بورجل فتحه کول خومره ژر له انسان څخه د هغه ستړيا اخلي.

# نه به وئ خبر...؟!



ژېړني ښيي، هغوی چې منځلاري وي، تل مثبت فکر کوي، د هر څه مثبت اړخونه ډېر کسي، عمر يې ډېر وي، په ژوند کې خوشحاله وي...

د دوی بدني- دفاعي ځواک تر نورو ډېر او زړه يې روغ وي...



هغه چې وايي، «پيسې به دې ښاد نه کا»، هسې خبره ده! د پوهانو څېړنې ښيي، پيسې رښتيا هم د خوشحالی لامل کېږي، او ډېرې ارزښتناکې دي، کله چې يوه بريد ته ورسېږي، بيا چې دې چې خومره ګټه ډېرېږي، هومره به دې د پيسو د زياتېدن هيله ډېرېږي او دا بيا ددې لامل کېږي، چې خوشحالي درڅخه واخلي او پام دې ټول د پيسو د ډېروَنګ ته شي...



که چېرې هره شپه له ويده کېدن وړاندې يوازې ۱۵ دقيقې کتاب ولولئ، په کال کې به مو شاوخوا ۱۵ کتاب لوستي وي! پدې ډول به د عمر په خلکو کې تر ټولو لوستي او د ښه فکر څښتن شئ... يوازې ۱۵ دقيقې کتاب لوستلو ته ورکړئ، چې تر ټولو د ښه فکر څښتن شئ...



ليدلي به مو وي چې ځينې خلک ځنګون شليدلی پتلون Damage Jeans د موړ په دود اغوندي، ددې دود مود له پينځلس کالو زيات وخت نه کېږي...

داسې دا وه چې يو اتلس کلن ځوان، چې د نوي پتلون د را نيولو وس يې نه لاره او په زاړه پتلون به شرمېده، نو خو تنو ملګريو يې له ده سره زاړه او شلېدلي پتلونونه واغوستل او د دوی دا کار فېشن او نن سبا يې ډېر د موړ په دود اغوندي...




يوريګلر هغه امريکايی دی چې د سترګو په زور اوسپنې کږوي!

سي آی اې په دې وروستيو کې ياد امريکايی له څېړنو لاندې نيولی چې پيدا کړي، څه وړ د سترګو (کتلو) په زور اوسپنې کږوي... يوريګلر خپل موټر په هغو قاشقو او قاشوق پنجو پسوللی چې د خپلو سترګو په زور يې کږې کړې دی...



نرينه موږکان د ښځينه هغو د راښکون لپاره عشقي سندرې وايي! دوی دا سندرې داسې وايي، چې د انسان غوږونه يې له اورېدنه عاجز دي...



د انګلستان په سهيل کې د يوه کتابپلورځي د ځای بدلولو لپاره سلګونه تنو کتابونه لاس په لاس کړل او د کتابپلورځي تر نوي ځايه يې کتابونه ورسول... خوندوره يې لا دا چې دا کتابتون نوی ځای هم د خلکو په مالي مرسته رغولی شوی و...